د افغانستان اسلامي جمهوریت
د اقتصاد وزارت

# ننګرهار ولایتي پروفایل

## اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته یوه کتنه



د ننګرهار ولایت د اقتصاد ریاست
وری ۱۳۹۸



# دمطالبو لیکلړ


سریزه........ ۱
مننلیک ........ ۲
د ولایت مقام پیغام ........ ۳
پیلیزه........ ٤
لنډیز ........ ٥
میتودولوژي(د جوړولو طریقه):........ ٦
د دغه سند پیژندنه ........ ۷
**لومړی ځپرکی ........ ۹**
د ولایت پیژندنه ........ ۹
ننګرهار د تاریخ په هنداره کې ........ ۹
د ننګرهار ولایت د میشتو وګړو اټکل د اداري واحد، ښاري، کلیوالي او جنس په توپیر ۱۳۹۷ کال ........ ۱۳
عمر د ډلو پر بنسټ(۰-۱۴ / ۱۵-٦٥ /تر ٦٥ کاله زیات عمر لرونکي) ........ ۱٥
د نفوس سلنه د عمر د ډلو پر بنسټ........ ۱٥
تاریخي ځایونه او آثار ........ ۱٥
عمومي نفوس/ وګړي ........ ۱٦
**دویم ځپرکی ........ ۱۸**
اقتصادي او ټولنیزي پراختیا ته یوه کتنه ........ ۱۸
د کرنې سکټور........ ۱۸
*خړوبې کرنیزې ځمکې(خړوبې، للمې) او ظرفیت د هکتار پر بنسټ........ ۲۱*
کرنیز محصولات........ ۲۲
د کرنیزو او مالداري محصولاتو ارزښت ........ ۲۲
*غله ........ ۲۲*
میوې ........ ۲۲
سبزی جات........ ۲۳
صیفی جات یا فالیزی نباتات........ ۲٤
وابښه........ ۲٤
صنعتی او طبی نباتات ........ ۲٤
د کرنیزو او مالداري فارمونو شمیر او ظرفیت ........ ۲٦
مالداری زیربنایی دولتی تاسیسات ........ ۲٦
*کار او کرنه........ ۲۷*
دکرهنې سکتور دتیرو پنځو کلنو بودجه او لګښت........ ۲۷
*عایدات او پانګونه........ ۲۸*
د کرنې سکټور د تیرو پنځو کلونو عایدات ........ ۲۸
د پوهنې سکټور........ ۲۸
دپوهنی سکتور پیژندنه........ ۲۸

دولتي او خصوصي ښوونځي ........................................ ۳۸
د ننګرهار پوهنې ریاست عمومي زدکړو پروګرامونه- ۱۳۹۷ ........................................ ۴۰
د ننګرهار ولایت د دولتی او خصوصی ښوونکو او مامورینو جدول- ۱۳۹۷ ........................................ ۴۲
د زده کوونکو او ښوونکو تناسب او د لیک لوست کچه ........................................ ۴۵
د ښوونځیو(لومړنیو، منځنیو او لیسو) د ودانیو شتون او نه شتون ........................................ ۴۸
دپوهنې سکتور دتیرو پنځو کلونو بودجه او لګښت ........................................ ۵۱
دولتي او خصوصي روغتونونه ........................................ ۵۶
د روغتونونو او بسترو شمیر(د ښځو لپاره د شته بسترو شمیر) ........................................ ۵۶
په خصوصي او دولتي کلینیکونو کې د ښځو او نرانو لپاره د خدمتونو د ارایې کیفیت ........................................ ۵۹
د روغتیاپه برخه کې د نادولتي مرستندویه موسسو او پرمختیایي شریکانو مرسته ........................................ ۶۲
سړکونو ته لاسرسی ........................................ ۶۳
صنعتي پارکونه ........................................ ۶۸
**دریم څپرکی ........................................ ۸۵**
دننګرهار ولایت پرمختیيای بودجه اولګښت ........................................ ۸۵
معارف: ........................................ ۸۵
*بودجه معارف ........................................ ۸۵*
*زراعت: ........................................ ۸۶*
*بودجه: ........................................ ۸۶*
*تحصیلات عالی: ........................................ ۸۸*
*بودجه تحصیلات عالی: ........................................ ۸۸*
*صحت عامه: ........................................ ۸۹*
*بودجه بخش صحت: ........................................ ۹۰*
*انرژی و آب: ........................................ ۹۱*
*بودجه: ........................................ ۹۱*
*فواید عامه: ........................................ ۹۲*
*بودجه: ........................................ ۹۲*
**څلورم څپرکی ........................................ ۹۴**
ټولنیز خوندیتوب او دجندر تحلیل ........................................ ۹۴
ټولنیز خوندیتوب ........................................ ۹۴
**پنځم څپرکی ........................................ ۱۰۶**
په ننګرهار ولایت کی در ستروسو صنعت د پراختیا لپاره پیشنهادی طرح ........................................ ۱۰۶
**شپږم څپرکی ........................................ ۱۱۰**
د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ او د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه (ANPDF/ NPPS) ........................................ ۱۱۰
۱. د خصوصي سکټور د پراختیا پروګرام ........................................ ۱۱۰
۲. د ولسي ترون پروګرام ........................................ ۱۱۲
۳. د اغیزمنې حکومتوالۍ پروګرام ........................................ ۱۱۳
۴. د عدلي سکتور د رغولو پروګرام ........................................ ۱۱۵

۵ . د کرنې د پراختیا هراړخیز پروګرام ............ ۱۱۶
۶. د اړیکو او زیربنا پروګرام ............ ۱۱۸
۸. د انرژۍ پروګرام ............ ۱۲۰
۹. د کانونو او طبیعي سرچینو د پراختیا ملي پروګرام ............ ۱۲۱
۱۰. د بشري سرچینو د پراختیا پروګرام ............ ۱۲۲
۱۱. د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام ............ ۱۲۳
**اووم څپرکي : ............ ۱۲۴**
گزیده شاخص های احصائیوی به سطح ملی : ............ ۱۲۴
سروی وضعیت زنده گی در افغانستان : ............ ۱۴۹
سروی وضعیت زنده گی به سطح ملی : ............ ۱۴۹
وضعیت زنده گی مردم ولایت ننگرهار به اساس سروی ALCS-۲۰۱۷ : ............ ۱۵۱
**اتم څپرکی ............ ۱۵۳**
د افغانستان د پایښت پرمختیا موخې............ ۱۵۳
د افغانستان د پایښتي پرمختیا د موخو عمومي پیژندنه ............ ۱۵۳
د پایښتي پراختیایي موخو(SDGs) لنډه پېژندنه ............ ۱۵۳
د پایښتي پراختیایي موخو(SDGs) پروګرام لیدلوری ............ ۱۵۴
*د ۱۷ موخو سمبولیک لنډیز ............ ۱۵۴*
*د افغانستان لپاره پایښتي پراختیایي موخې(A-SDGs) ............ ۱۵۵*
*د افغانستان لپاره د بنسټيزو پراختیایي موخو اهمیت A-SDGs:همیت اهدافافغانستان ............ ۱۵۵*
د افغانستان د پایښتي پراختیایي موخو(A-SDGS) د پلي کولو پړاوونها............ ۱۵۶
*د افغانستان د پایښتي پراختیایي موخو(A-SDGs) د ملي کولو په برخه کې مهمې لاسته راوړنې............ ۱۵۶*
د افغانستان د پایښتي پراختیایي موخو(A-SDGs) د مشرتابه او څارنې جوړښت: ............ ۱۵۷
د افغانستان د پایښتي پراختیایي موخو(A-SDGs) کاري کمېټې او ډلې ............ ۱۵۸
د پایښتي پراختیایي موخو د عامه اړیکو او استازندویي ستراتیژي ............ ۱۵۹
د پایښتي پراختیایي موخو د اغیزمن تطبیق په تړاو مشورتي غونډې کول؛ ............ ۱۵۹
*په افغانستان کې د بنسټيزو پراختیایي موخو تاړګېتونه او شاخصونه : ............ ۱۶۰*
سرچینې او مأخذونه ............ ۱۹۰

# لنډیزونه

| | |
|---|---|
| MoEc | د اقتصاد وزارت |
| CSO | د مدني ټولنې اداره |
| DDA | د ولسوالۍ پراختیایي شورا |
| GDDC | د طرحې او توحید عمومي ریاست |
| DGO | د ولسوالۍ مقام دفتر |
| ISLA | سیمه ییزه ادارو د پیاوړتیا نوښت |
| IDLG | د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکه اداره |
| INGO | نړیواله نادولتي موسسه |
| LoGo | سیمه ییزه حکومتوالي (هغه پروژه چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام -UNDP له خوا پلې کیږي) |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| PAP | کلنۍ ولایتي پلان |
| PBP | د ولایتي بودیجې پالیسي |
| PC | ولایتي شورا |
| PCM | د ولایتي شوراغږي |
| PCO | د ولایتي شورا دفتر |
| PDC | ولایتي پرمختیایي کمېټه |
| PDPG | د ولایتي پرمختیایي پلان جوړونې لارښود |
| PGO | د ولایت مقام دفتر |
| PSP | ولایتي ستراتیژیک پلان |
| DoEc | ولایت د اقتصاد ریاست |
| PIMS | د ولایتي مالوماتو مدیریت سیستم |
| PTC | ولایتي تخنیکي کمېټه |
| PPFMC | د عامه مالي مدیریت ولایتي کمېټه |
| PSTC | د ولایتي سکټور تخنیکي کمېټه |
| PLMD | اړونده ولایتي ریاست |
| USAID | د متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره |
| WB | نړیوال بانک |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام |

# سریزه



په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان د انساني، فرهنګي، ټولنیزو او اقتصادي سرچینو ساتنې او پراختیا ته اړتیا لري تر څو وکړای شي د پراختیا بهیر د هغه پر بنسټ عیار او همغږی کړي. د دې بهیر د اړینو مسئلو له ډلې څخه د سوداګرۍ، ټرانزیټ، صنعت، لاسي صنایعو، داخلي تولیداتو او په علمي او تخصصي شتمنۍ باندې سمبال انساني ځواک او شته پرمختیایي سرچینې دي چې د کرنیزو محصولاتو او نورو اقتصادي بل القوه پوټېنشیلونو د ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

ښکاره خبره ده، په هره اندازه چې ښه پلان جوړونه وشي او ښه لاربښودونه برابر شي نو په هماغه اندازه به د ودې او پراختیا بهیر په منظمه او ښه توګه پر مخ ولاړ شي او ټولنه به د هوساینې او پرمختګ په لوري ولیږدوي.

په داسې حالاتو کې د مالوماتي ټولګې یا ولایتي پروفایل شتون، د بشري ټولنې په بیلابیلو برخو په تیره بیا د پلان جوړونې او پالیسي جوړونې په برخو کې خورا مهم او اړین ګڼل کیږي.

د اقتصاد وزارت ویاړي چې د هیواد په کچه د یو ریښتیني بنسټ د ټاکلو په موخه او د ولایتونو د شته حالاتو په تړاو کره مالوماتو ته د لاسرسۍ په برخه کې اسانتیا برابره کړي او د پلان جوړونکو، څیړونکو، دولتي ادارو، مرسته کونکوو مؤسسو، خیریه بنسټونو، زده کوونکو او لیکوالانو لپاره ولایتي پرمختیایي او اقتصادي معلوماتي ټولګه(پروفایل) جوړ کړي. دغه پروفایل د تخنیکي کمیټې له خوا چې مرکزي او ولایتي مسلکي کارکوونکو په کې ګډون درلود او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسساتو، ځوانانو، د پوهنتونونو د ښوونکو، غوره کسانو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولایتي نهادونو په مرسته او همکارۍ جوړ شوی او د افغانستان د خلکو خدمت ته وړاندې کیږي.

یاد پروفایل تر ډیره بریده پر عامه هوساینې او د اقتصادي او ټولنیز حالت پر څرنګوالي، تاریخي قدامت، د پرمختیایي سکټورونو د حالت پر ارزونې، زیربنا او نورو مهمو پرمختیایي مسایلو باندې تمرکز لري او په ټولیز ډول سره د ولایتونو اقتصادي او ټولنیز لیرلید لکه اقتصادي او ټولنیز ظرفیتونه، د اقتصادي ودې او پرمختیا په وړاندې ننګونې، د اقتصادي هوساینې او اقتصادي حالت د ښه والي په برخه کې شته فرصتونه مطالعه کوي او ارزوي.

ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګه(پروفایل) مرسته کوي تر څو بودیجوي نهادونه، د پرمختیایي پلان جوړونې بهیر د ولایت د اقتصادي او ټولنیزو اړتیاوو او لومړیتوبونو پر بنسټ تنظیم کړي او د نړیوالې ټولنې مالي مرستې د ولایت له اړتیاوو او لومړیتوبونو سره همغږي کړي تر څو د ولایت په کچه د عامه هوساینې د سمون لپاره لاره هواره شي.

زه له دې فرصت څخه په ګټه اخیستنې د ولایتي پروفایل جوړولو د کمیټې له غړو څخه په ځانګړې توګه مننه کوم او د نورو دولتي ادارو او مدني ټولنې نهادونو د کارکوونکو، کارپوهانو او ټولو هغه کارکوونکو هڅو او زیار ته د قدر په سترګه ګورم چې په دې کار کې ښکیل اوو.

**ډاکټر مصطفی مستور**

**د اقتصاد وزیر**

# مننلیک



خوښ یم چې نن د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د پلان جوړونې په برخه کې د یو بل ستر گام شاهد یم. دغه لاسته راوړنه چې د ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګې(پروفایل) جوړول دی ، له شکه پرته د ولایتونو په کچه د یو ټولیز لارښود او مالوماتي سرچینې په توګه، د پانګه والو او تمویلونکو نهادونو د جلبولو له لارې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

دغه پروفایل کولای شي د ولایت د ماضي او راتلونکي په هکله یو ریښتینی انځور وړاندې کړي او په اغیزمن ډول سره، د دقیقې پلان جوړونې او پانګونې لپاره لاره هواره کړي. د ولایتونو پروفایل د ولایت د شته پرمختیایي حالت تر څیړنو او ارزونو وروسته له دولتي ادارو، ولایتي شوراګانو، د مدني ټولنې نهادونو، کارپوهانو، ښځو، د پوهنتونونو د ښوونکو سره په مشوره کې جوړ شوی دی. باید اعتراف وکړو چې د یو تخنیکي او مسلکي ټیم په نه شتون کې، د داسې یو پروفایل جوړول ګران او حتی ناشونی وو. له همدې امله، د ولایتي پروفایل جوړولو په موخه یوه تخنیکي کمیټه جوړه شوه چې د طرحې او توحید لوی ریاست د ولایتي چارو تخنیکي کارکوونکو په کې ګډون کړی وو او د سیمه ییزو ادارو د پیاوړتیا نووښت(ISLA) پروژې د سلاکارانو په همکارۍ او د طرحې او توحید لوی ریاست تر مشرۍ لاندې تر سره شو. له همدې امله اړینه ګڼم چې د طرحې او توحید لوی ریاست او کمیټې له رئیس ډاکټر میرویس بهیج ، د ولایتونو د اقتصادي فعالیتونو د انسجام له آمر ښاغلي عبدالرحمن کمین اود ښاغلی غلام الله "افغانیار" د ننګرهار ولایت داقتصاد رییس ، څخه په ځانګړې توګه مننه او قدرداني وکړم چې په خپلو هڅو او زیار سره یې د یاد پروفایل د جوړولو لپاره لاره هواره کړه.

همداډول، د ولایتي مسئولینو او کارکوونکو له همیشنۍ همکارۍ څخه چې په دې برخه کې یې زموږ سره همکاری کړې، مننه کوم.

داسند په اته فصلونوکې جوړشوی دی چې دولایت دمعرفی او پیژندنی په شمول دولایت اقتصادی ظرفیتونه ، دخلکو دژوندانه وضعیت، تولنیز اوکلتوری بنسټونه، دولایت پرمختیایی وضعیت، دپانګې اچونې وضعیت، دولایت په کچه پرمختیایی بودجه او لګښت ،دنادولتی موسساتو دفعالیت څرنګوالی ، اقتصادی او تولنیزو مهمه شاخصونه او دافغانستان لپار دبنسټیزو پراختیایی موخو په هکله معلومات را تول شوی دی .

هیله من چې دغه پروفایل به وکړای شي د عامه هوساینې او افغانستان د شریفو خلکو د سوکالۍ په برخه کې ګټوره او اغیزمنه ونډه ولري.

**محمد اسماعیل رحیمي**

**داقتصاد وزارت مسلکي معین**

# د ولایت مقام پیغام



اقتصادي وده او پرمختګ چې یوه دوامداره پروسه ګڼل کیږي، د ستراتیژیکو پلانونو طرح او تطبیق، د شته سرچینو څخه اغیزمنه ګټه اخستنه او د یو ښه مدیریت په شتون کې کولای شو اوږد مهاله پایداره موخې په اسانۍ ترلاسه کړو. په تیره یوه نیمه لسیزه کې، سره له بې شمیره ننګونو او ستونزو ګران هیواد افغانستان د پوهنې، روغتیا، زیربنا، ټولنیز خوندیتوب، ښې حکومتولۍ او نورو مختلفو برخو کې په بې ساري ډول پرمختګ کړیدی. پرته له شکه، د پرمختګ په دغه بهیر کې د ملګرو ملتونو ادارو، غیردولتي موسساتو او نورو مرستندویه ټولنو هلې ځلې کړیدي او لاهم د دغه مرستو لړۍ ادامه لري. د ننګرهار ولایت د والي او د هیواد د یو وګړي په حیث پدغه برخه کې د نړیوالې ټولنې له سخاوتمندانه مرستو او ونډې څخه مننه او قدرداني کوم چې تر دې دمه یې د افغان حکومت سره اوږه په اوږه کار کړی دی.

ننګرهار د ځانګړي ستراتیژیک موقعیت په درلودلو، تاریخي ځانګړنو، آب و هوا او طبعي منظرو له امله د هېواد او نړۍ په کچه د خلکو او په خاصه توګه سېلانیانو خاصه پاملرنه یې ځان ته رااړولې ده. ننګرهار هم د هیواد د نورو ولایتونو په څیر د یو شمیر سترو بدلونونو شاهد و. اما یاد پرمختګونه بسنه نه کوي او لا هم ډیر څه باید تر سره شي تر څو اوسني عصر ته په کتنه د خپل کړیدلي ملت د هوسا ژوندانه اسانتیاوې برابرې، اقتصادي ودې او د سرانه عاید د لوړوني لامل شي او تر څنګ یې د بیکارۍ، لوږې او بیوزلۍ ټغر ټول شي.

د پایداره اقتصادي ودې او متوازنې پراختیا لپاره د واقعیتونو پربنسټ ولاړ، کره او دقیقو ارقامو شتون، معیاري پلان جوړونه په ځانګړي ډول هغو هېوادونو کې چې تازه له جنګونو څخه راوتلي وي خورا اړین ګڼل کېږي. یادی موخی ته د رسیدو په موخه مو د ماموریت له پیل څخه په متوازن پرمختګ، لرې پرتو او جنګ ځپلو ولسوالیو د چوپړتیاوو او خدماتو د غځونې له لارې ځانګړې پاملرنه، په ولاړو اساسي زېربنایي پروژو د کارونو پیل او چټکتیا مو له کاري لومړیتوبونو ټاکلي وو. خوشبختانه په لنډه موده کې مو د اړونده ادارو او ولسونو په ملاتړ وکولای شول د سیستمونو جوړولو له لارې، د فساد سره مبارزې، د دولت او ولس تر منځ واټن لرې کولو، د پالیسیو، طرزالعملونو او لارښودونو تطبیق ته د ځانګړې پاملرنې پر مټ چارې په بریالیتوب سره سمبال کړو او مطلوبې پایلې ترلاسه کړو. په دې برخه کې د ۱۳۹۹ لمریز کال اقتصادي او اجتماعي پرمختیایي پلان جوړونه او د ننګرهار ولایت اقتصادي او ټولنیزې پراختیا دغه پروفایل د یادو لاسته راوړنو یوه ښه بیلګه یادولای شو.

پدې برخه کې د اقتصاد محترم وزارت د دغه ارزښتناک نوښت څخه چې د ولایتي پروفایل په برخه کې یې لارښود ترتیب کړی قدرداني کوم او د ولایتي ادارو په خاصه توګه د اقتصاد ریاست څخه چې د دغه پروفایل جوړولو بهیر یې په ښه همغږۍ په بریالۍ توګه مدیریت کړ او د اړونده ادارو د مسؤولینو او همکارانو او همدارنګه د ایسلا پروژې کاري ټیم څخه د زړه له تله مننه کوم چې پدغه بهیر کې یې د اقتصاد ریاست سره همکاري کړیده. ډاډمن یم چې مرکزي او ولایتي اداری به د دغه سند څخه د ننګرهار لپاره په راتلونکو پراختیائي پالیسیو او پروګرامونو په طرح کولو کې کار واخلي.

**شاه محمود میاخیل**

**د ننګرهار والي**

# پیلیزه

افغانستان د تیرو څو لسیزو جنګونو او داخلی بدبختیو له کبله د نورو هیوادونو له سیالۍ وروسته پاتی کړ او په پایله کی یی د هیواد وګړي د بیوزلی، فقر او لوږی سره مخ کړل. اساسي زیربناوې تخریب او له منځه ولاړې، روغتیائی خدمات او منظم ښوونیز بهیر مختل شو. پانګوال اړ شو څو خپله سرمایه له هیواده د باندې وباسي، ملي پانګه زیانمنه او د هیواد ملي شتمنۍ او زیرمې مو د ګاونډیانو په اختیار کی ولویدې. همدارنګه کرنه او مالداري، صنعت او تجارت خلاصه هر څه مو له لاسه وکړل چی له امله یی لاتر اوسه نورو ته احتیاج او د ډول ډول بدبختیو سره لاس او ګریوان یو.

اما خوشبختانه د بن کنفرانس راپدیخوا چی شاوخوا یوه نیمه لسیزه کیږي د یو نوي نظام د بنسټ په ایښودولو افغانستان یو وار بیا د پرمختګ پر لور مزل پیل کړ. د ملګرو ملتونو د مرستندویه هیأت (UNAMA) په مشرۍ او د نړیوالې ټولنې په مالي او تخنیکي مرستې د حکومتولۍ او قانون حاکمیت سربیره د بیارغونی او پراختیا په برخه کی بی ساری پانګونه ترسره شوه او دا لړۍ لا هم روانه ده. په یاده موده کی افغانستان د کرنې او مالدارۍ سربیره د روغتیا، پوهنی، لوړو زده کړو، زیربناوو، صنعت او تجارت او داسی نورو سکتورونو کی د پام وړ بدلونونه ترسترګو کیږي او هیواد وال یی د بل هر وخته روښانه راتلونکي ته هیله مند کړیدي.

څرګند حقیقت دی چی پرمختګونه د خنډونو او ستونزو سره مله وي. نیمګړي حقوقي چارچوب، د مشخصو او واضحو تګلارو (ستراتیژیو) او پالیسیانو نه شتون د پرمختګ پر لور مزل یو څه ټکنی کړی وو. دا چی پالیسیانی او تګلاری جوړول معمولآ د کره او دقیقو ارقامو له مخی طرح کیږي اما موجوده ناامنۍ د هیواد په کچه دقیقو ارقامو او معلوماتو ترلاسه کولو او د کره احصایوي ارقامو نشتون له امله زیاتره پالیسیانی چی د اټکل له مخی طرح شوی وی له ناکامۍ سره مخ کړی چی په پایله کی یی په زیاته پیمانه پانګه بیځایه په مصرف رسیده او مطلوبی پایلی د اټکل سره سم نه ترلاسه کیدی. دا د دی لامل شوی چی په هیواد کی د بیوزلۍ او بیکارۍ کچه ورځ تر بلی مخ په زیاتیدو شی.

ننګرهار چی د هیواد په ختیځ کی پروت یو سرحدی ولایت دی، د نورو ولایتونو په څیر د ترسره شوو پرمختګونو او ورته ننګونو شاهد وو. اما د ارقامو او کره احصایی نشتون دغه ولایت هم د ستونزو سره لاس او ګریوان کړیدی. په دی وروستیو کی اقتصاد وزارت هڅی پیل کړې څو په ولایتی کچه شته ارقام او معلومات راجمع او د پروفایل له مخی یی په یو سند کی ځای پر ځای کړي. دغه سند هم د یاد نوښت یوه بیلګه ده چی د ننګرهار اقتصاد ریاست لخوا د ولایت مقام تر مستقیی رهبرۍ لاندی د نورو ولایتی ادارو په مرسته چمتو شویدی، لوستونکو او پالیسی جوړونکو لپاره د یوی معلوماتي کڅوړی په حیث ترتیب شویدی. تمه ده دغه سند به د ننګرهار ولایت په راتلونکو پرمختائي پلانونو، اوږد مهاله ستراتیژیو او اقتصادي پالیسیو په طرح او تدوین کی ممد واقع شي او د اړتیا وړ معلوماتو د یوی موثقی او معتبری منبع په حیث به ورڅخه ګټه پورته شی.

# لنډیز

اقتصادي وده او د هیواد په کچه انډولیزه پراختیا د حکومت له اساسی لومړیتوبونو ګڼل کیږی. د یوی واقعی ملي اجنډا په توګه حکومت هڅه کړی څو د نړیوالی ټولنې په مالی او تخنیکی مرسته یادی موخی ته رسیدنه یقینی کړی. د تیری یوی نیمی لسیزی هڅو وروسته که څه هم په ډیری برخو د پرمختګونه تر سترګو کیږی اما لا هم ډیر څه ته اړتیا لیدل کیږی.

دا چې متوازن پرمختګ د واضحو تګلارو او مشخصو پالیسیو شتون لپاره اړین بلل کیږی او د تیرو څو کلونو تجاربو ښودلی چې پدی برخه کی د دقیقو احصائیوی ارقامو او کره معلوماتو نشتون په ملی کچه جدی ستونزه وه، په ځانګړي ډول د ولسوالیو او لری پرتو سیمو. اقتصاد وزارت د وظیفوي مسؤولیت له مخی تل هڅه کړی څو د مختلفو مراجعو ارقام جمعآوری او د پراختیائي ستراتیژیو په جوړولو کی ورڅخه ګټه پورته کړی. بی له شکه دقیقه احصائیه سربیره نه یواځی دا چې د سرچینو د بیځایه مصرف مخنیوی کوی بلکه د اقتصادی او پراختیائي برنامو د موثریت لامل ګرځی او همداراز متوازن پرمختګ یقینی کوي. د ارقامو او معلوماتو اهمیت ته په کتنه، پدی وروستیو کی اقتصاد وزارت ولایتی څانګو ته د ولایتی پروفایلونو جوړولو لارښوونه کړیده. ولایتی پروفایلونه به د سکتور په کچه تحلیلی ارقام او معلومات ولری څو پر مټ یی پالیسی سازی اداری د معلوماتی بستو (ډیټا بانک) په حیث د هغی څخه د پراختیائي پلانونو او برنامو په جوړولو کی کار واخلی.

د ننګرهار ولایت پروفایل د یوی مشورتی پروسی له لاری د ټولو ذیدخلو خواو سره په ګډه همغږی د سکتوری ادارو د ارقامو او معلوماتو په اساس جوړ شویدی. هڅه شویده څو د معتبرو دولتی اسنادو او مراجعو څخه دقیق او کره معلومات راجمع، تحلیل او په پروفایل کی ځای پر ځای شویدی. د هر سکتور تیر حالت ته لنډه کتنه شوی او فعلی وضعیت یی په ډیر ښه ډول تشریح شویدی. کرهنه او د کلیو پراختیا، پوهنه، کلتور، رسنی او سپورت سکتور، عامی روغتیا او تغذی، اقتصاد او خصوصي سکتور، د بنسټونو او طبعی زیرمو او ټولنیز خوندیتوب سکتورونه د عمومی جغرافیائي موقعیت او دیموګرافیک معلوماتو سربیره په دغه سند کی په کلی ډول څیړل شویدی. تمه ده د ننګرهار ولایت اړونده اداری به د یاد پروفایل له معلوماتو څخه د اقتصادی او پراختیائی ستراتیژیو، برنامو او پروژو جوړولو په برخه کی ګټه واخلی.

# میتودولوژي(د جوړولو طریقه):

د ولایت پروفایل د یوې منظمې او څېړنیزې طریقې پر بنسټ، د ولایت د شته حالاتو په هکله مالوماتو راټولولو په موخه، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، ملي لومړیتوبونو پروګرام او افغانستان د دوامداره پرمختیا پروګرام موخو او شاخصونو ته په کتو، ترتیب شوی دی.

د پروفایل جوړولو لپاره، لومړی د اقتصاد وزارت د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو ته د پروفایل جوړولو او ارقامو غونډولو لارښود ورکړل شو تر څو ټاکلو شاخصونو ته په کتو، د ولایتونو په کچه ټول شته ارقام راټول شي او د هغوی په رڼا کې د ولایتونو پروفایلونه جوړ شي. تر هغه وروسته، د ولایتونو د اقتصاد  ریاستونو کاري ټیمونو، په ولایتونو کې د مېشتو سکټوري ریاستونو په همکاري اړین مالومات د ولایت په کچه له بیلابیلو باوري څېړنیزو مراجعو او سرچینو لکه د احصائیې ریاست او نورو دولتي نهادونو، خصوصي سکټور، داخلي او بهرني نادولتي مؤسسو، مدني ټولنې له نهادونو او نورو باوري مراجعو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې راټول کړل او د ولایتي پروفایل په نامه یې یو واحد سند جوړ کړ.

پر دې سربېره، د ارقامو راټولولو او مالوماتو تر لاسه کولو په برخه کې، له ذیدخله اړخونو او پوهانو سره د ډله ییز کار او مرکو له طریقو څخه هم کار واخیستل شو. همداډول، د دې سند جوړولو په کار کې د باوري ملي او نړیوالو سرچینو او مأخذونو لکه د افغانستان د خلکو د حالت سروې، د ملي لومړیتوبونو پروګرام لنډیز، د ولایتونو د مالي مسئلو او بودیجې په اړه د مالیې وزارت ولایتي پروفایل، په ولایتونو کې اقتصادي طرحې او شته بل القوه ظرفیتونو، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، د اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو ټولګې او د افغانستان د دوامداره پرمختیا له موخو څخه هم کار اخیستل شوی دی.

په پای کې باید ووایو چې یاد سند، د طرحې  او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا په دقیقه توګه کتل شوی او مطالعه شوی او له مخکې ټاکل شویو شاخصونو او معیارونو پر بنسټ، د څېرکو او مندرجو ارقامو تر پرتله ییزې بیاکتنې وروسته چاپ ته سپارل شوی دی. دغه سند د یو ریبنتیني بنسټ په توګه، د شته حالاتو ارزونه په سمه توګه وړاندې کوي او د ولایت د پرمختیایي پلان جوړونې د بهیر لپاره هم اسانتیا برابروي. همداډول، یاد سند پانګه وال او پرمختیایي همکاران هڅوي تر څو د پانګونې او دوامدارې پرمختیا د سمون په برخه کې رغنده او اغیزمنه ونډه واخلي.

# د دغه سند پیژندنه

په ولایتي کچه د اقتصادي ودې او پراختیا په هکله د دقیقو ارقامو او معلوماتو شتون د راتلونکو برنامو او ستراتیژیکو پلانونو د طرحه کولو لپاره اړین ګڼل کیږي. دغه سند د ننګرهار ولایت اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ولایتي پروفیل په نامه د یوې منظمې او سیستماتیکې پروسې په پایله کې ترتیب شویدی. لومړی د هرې اداري څخه ځانګړې پروپایلونه راټول او تحلیل شو، په دویم قدم کې د هرې اداري څخه د ځانګړو پوښتنلیکونو له طریقه ارقام او معلومات راټول شو. راټول شوي معلوماتونه ( ډیټا ) د منظم تحلیل او څیړنې څخه وروسته پدغه سند کې ځای پر ځای شو.

په اصل کې دغه سند د افغانستان د پایداره پراختیایي موخو (SDGs ) او د افغانستان د سولې او پراختیا ملي چارچوب (ANPDF) او د ملي لومړتوب لرونکو پرو ګرامونو (NPPs) په چوکاټ کي د ولایت په کچه د ټولو سکټورونو چې (کرهڼه او د کلیو پراختیا، پوهنه، کلتور، رسنۍ او سپورت، عامه روغتیا او تغذي، د بنسټونو او طبعی زیرمو سکتور، ټولنیز خوندیتوب، اقتصاد او خصوصي سکتور) پکې شامل دي هر اړخیز معلومات وړاندی کوي. ترتیب شوی سند مونږ ته د ننګرهار ولایت اوسنې وضعیت په هر اړخیز ډول راپیژني.

د سند جوړښت

دغه سند په څلورو عمده برخو ویشل شویدي:

لومړی: د ولایت پیژندنه:

دوهم: د ولایت د عمومي حالت تحلیل:

دریم: د افغانستان د سولې او پراختیا ملی چوکاټ، او د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونه (ANPDF/ NPPs)

څلورم: د افغانستان پایداره پراختیایی موخې (A-SDGs) (اوه لس موخې)

په ولایتي پروفایل کې د معلوماتو راغونډولو میتود

- د ترتیب شوو پوښتینلیکونو مطابق د معلوماتو ټولول
- د مخامخ مرکو له طریقه
- د سکتوری ادارو لخوا د مکتوب او هم دایمل له لارې د معلوماتو راټولول
- د مرکزی احصاییی اداری د مستندو اسنادو څخه معلومات اخیستل
- د ولایت په سطحه د نړیوالو ادارو لخوا د سروی شوو سروی ګانو د مستندو پایلو څخه ترلاسه شوي معلومات

د موادو تحلیل

لومړي مرحله: پوښتن لیکونه ټولو سکتوري او فرعی ادارو او ریاستونو ته په مکتوبي او د ایمل له لارې واستول شو او په ځواب کی یی د اړونده ادارو څخه غوښتل شوي معلومات ترلاسه شول

دوهمه مرحله: د معلوماتو د تحلیل، کتنې او توحیدولو په لړ کي د نیمګړتیاو د شتون په صورت کی د اړونده مراجعو سره اړیکې ونیول شوې او ورسره مرکي تر سره شوي.

دریمه مرحله: د کره کتنی څخه وروسته ټول راټول شوی معلومات په یو ځانګړی ټاکل شوی فارمټ کی توحید او ځای پر ځای شول.

رهبري او تخنیکي همکاري

ددغه پروسی ټول بهیر د ننگرهار ولایت مقام تر رهبری لاندی د اقتصاد ریاست لخوا مدیریت او همغږی کیدله. د یادولو وړ ده چی په دغه پروسه کی د اقتصاد ریاست دانکشافی چارو د تظیم آمریت کارمندانو سره د اړتیا په صورت کی د ایسلا برنامي ولایتي دفتر د کارمندانو لخوا تخنیکی همکاری تر سره کیده.

د موادو راټولولو ټیم

د ننگرهار ولایت اقتصاد ریاست د انکشافی چارو د تنظیم آمریت کارمندان او د ایسلا برنامی ولایتي کارکوونکی.

د ولایتی پروفایل اهمیت

دغه سند د ننگرهار ولایت اوسني وضعیت د افغانستان د سولې او پرمختیا ملی چوکاټ، او د ملي لومړیتوب لرونکو برنامو او د افغانستان پایداره پراختیا موخو په اساس ترتیب شوی دی. په کلي ډول دغه سند د ننگرهار ولایت هر اړخیز اقتصادي او اجتماعی انځور، د ولایتی پروفایل اساسی موخه، د ولایتی سکتورونو او ریاستونو اوسنی وضیعت روښانه کوی او د یادو معلوماتو په وړاندی کولو سره د دغه ولایت د پرمختگ لپاره د مرکزی حکومت توجو راجلبوي.

# لومړی څپرکی

## د ولایت پیژندنه

### ننگرهار د تاریخ په هنداره کې

د ننگرهار ولایت تاریخي سابقه د پخوانیو آریایانو له مدنیت سره اړیکه لري. د بودیزم دین په دې سیمه کې ډېره پرمختیا کړېده. د چینایي گرځند هیوان تسنگ له قوله، نگارهارا Nangarhar د کلمې یادونه د اوستا په کتاب کې شوېده چې مطلب یې همدغه د ننگرهار سیمه ده. د لرغون پیژندونکو له کیدنو څرگندېږي چې له پینځلس زرو څخه زیاتې وړې او منځنۍ کچ مجسمې په مختلفو حالاتو کې له ننگرهار، په ځانگړې توگه له هډې څخه په لاس راغلي دي چې ډېره برخه یې د پاریس موزیم ته وړل شوي دي.دامجسمې د ممیلادي دوېمې او شپږمې پیړۍ پورې اړه لري. یو بل گرځند فاهبین دا آثار د دوهمې میلادي پېړۍ دمخه بولي. په تاریخي لحاظ دغه ولایت په بیلا بیلو نومونو (نگار، نگارا ، نگاراهار، نگر....) یاد شوی . له دغه ولایت څخه پر ۱۳٤٥ کې لومړی لغمان او بیا پر ۱۳٤٨ ترې کونړ بیل او ځانگړې ولایتونه وگڼل شول

جغرافیایي موقعیت او موسم(د ولسوالیو نومونه او د پولو په اړه مالومات)

ننگرهار د افغانستان ختیځ کې د ختیځ طول البلد د ۷۰ درجو او ۲۸ دقیقو او د شمالي عرض البلد د ۳۳ درجو او ٥٦ دقیقو تر منځ پروت دی، چې د سمندر له سطحې څخه یې لوړوالی ٥۹۹ متره او پراخوالی یې ۷۹۱٦ کیلومتره مربع دی او مرکز یې جلال اباد ښار دی.

ننگرهار ولایت، چې د تاریخي ځانگړنو، اوبو او هوا (اقلیم)، مېوو، حاصلاتو او طبیعي مناظرو له امله یې د هېوادوالو پاملرنه ځان ته را اړولې ده، د شمال له خوا څخه یې یو څه برخه د کونړونو او یو څه یې په لغمان ولایت پورې نښتې ده، د لوېدیځ له خوا په کابل او لوگر ولایتونو پورې تړلې او د سوېل(جنوب) خواته یې سپین غر له پکتیا او کوزې پښتونخوا څخه بېلوي.

د ننگرهار ولایت ختیځه او سوېل ختیځه خوا له ډېورنډ کرښې سره گډه پوله لري. د ننگرهار د تودوخې منځنۍ کچه په اوړي کې تر ٤٥ سانتي گرېډ درجو او په ژمي کې تر مثبت ۲ سانتي گرېډ درجو پورې رسېږي، مدیترانه یي اقلیم لري، په ژمي کې یې د اورښت کچه تر ۲٤۲- ۳۹۰ ملي مترو پورې رسېږي.

د ننگرهار ولایت د مرکز تر څنگ ۲۲ ولسوالۍ (اداري واحدونه) لري، او مرکز یې بیا د پنځو ښاري ناحیو درلودونکی دی.

## جلال اباد:

د ننگرهار ولایت مرکز جلال اباد، چې د تاریخي قولونو له مخې یې نوم پخوا جلالکوټ و، په ۹۹۰ ق کال کې د شمالي هندوستان لوی پاچا جلال الدین اکبر مغل یې د جوړېدو امر وکړ. دغه ښار په ۱۸۸۰ زېږدیز کال کې د سېلابونو له امله وران شو او وروسته له هغه په نوي ښاري پلان کې بیا ورغول شو. جلال اباد پنځه ناحیې لري.

## کوز کونړ:

د کوز کونړ ولسوالی د ننګرهار یوه له هغو سیمو ده، چې کرنیزې او حاصل خېزې ځمکې او ډېرې اوبه لري. دغه ولسوالی د جلال اباد ښار شمال لور ته په ۲۵ کیلومترۍ کې پرته ده، چې په اوږدو کې یې د کونړ سیند بهیږي. یاده ولسوالي د ننګرهار له امنو ولسوالیو شمېرل کېږي.

## مومندره:

مومندره د جلال اباد ښار ختیځ ته په ٤٠ کیلومترۍ کې پرته هغه ولسوالي ده، چې د کونړ سیند یې په منځ کې بهیږي، د دې ولسوالۍ ډېری اوسېدونکي په کرنه بوخت دي. د مومندرې په حدودو کې د ګردي غوث زیارت هم موجود دی.

## کامه:

کامه ولسوالۍ د ننګرهار نسبت نورو ولسوالیو ته ډېرې شنې او حاصل خېزې ځمکې او له ګوشتې او ښېوې ولسوالیو سره ګډه پوله لري. د دې ولسوالۍ تولیدات ګوړه، وریجې او نوره سبزي جات دي. د وخت ستر لیکوالان او مفکرین خادم او موسی شفیق هم د دې ولسوالۍ اوسېدونکي وو.

## بهسود:

بهسود د ننګرهار مرکز جلال اباد ښار ته نږدې یوه ګڼ نفوسه ولسوالۍ ده، چې په کې د هډې اخوندزاده مشهور جومات هم شته او د هېواد نامتو ملي شاعر ملنګ جان هم د همدې سیمې و.

## رودات:

رودات د جلال اباد ښار ختیځ ته په ۱۸ کیلومترۍ کې پرته ولسوالۍ ده. چې په کې د غازي امان الله خان د ښارګوټي ستره پروژه، صنعتي پارک، د نوي ګمرک او رېل ګاډي ستېشن ځایونه جوړیږي، چې له ښارګوټي پرته د نورو پروژو چارې لا نه دي پیل شوې.

## کوټ:

کوټ ولسوالۍ د جلال اباد ښار سوېل ختیځ ته په ۲۵ کیلومترۍ کې پرته ده، د کرنې لپاره کافي اوبه نه لري او نفوس یې د نورو ولسوالیو په پرتله کم دی.

## بټي کوټ:

د بټي کوټ ولسوالۍ د جلال اباد ښار ختیځ ته په ۳۰ کیلومترۍ کې پرته ده، شنه او سرسبزه سیمه ده او د ننګرهار د ناوې پروژه هم په همدې ولسوالۍ کې ده. یاده ولسوالۍ زرګونه هېکتاره د زیتون، ستروس او یو شمېر نور زینتي ونو باغونه لري. په کرنه کې یې د ننګرهار د کانال له اوبو استفاده کېږي.

## غني خيل:

د غني خېلو ولسوالۍ د جلال اباد ختيځ ته په ٤٠ کيلومترۍ کې پرته ده. پخوا د شينوارو د لويې ولسوالۍ په نوم ياديده. دغه ولسوالۍ د نورو ولسواليو په پرتله ډېر نفوس لري او اوسېدونکي يې ډېرى په ازاد کاروبار بوخت دي. د گولايي په نوم سيمه، چې وزير محمد گل خان په کې زېږېدلى دى، د همدې ولسوالۍ اړوند ده.

## نازيان:

نازيانو ولسوالۍ د جلال اباد ښار سوېل ختيځ ته په ٥٠ کيلومترۍ کې پرته ده، چې ډېرى اوسېدونکي يې په مالدارۍ بوخت دي. ياده ولسوالۍ تر هوارې غرنۍ سيمې زياتې لري او ډېرى اوسېدونکي يې له غرونو د لرگيو راوړلو کاروبار کوي.

## اچين:

اچين هم د ننگرهار يوه له هغو لرو پرتو ولسواليو څخه ده، چې د جلال اباد ښار سوېل ختيځ ته موقعيت لري. دغه ولسوالي د ننگرهار له امنو سيمو کې شميرل کيږي او اوسيدونکي يې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي.

## سپين غر:

سپين غر هم د جلال اباد ښار سوېل ختيځ ته پرته ولسوالي ده، چې لا هم په دولت کې رسمي نه ده او له نازيانو ولسوالۍ سره گډه پوله لري. د دې ولسوالۍ اکثره اوسيدونکي کارگر او بزگر دي.

## دور بابا:

دور بابا د ننگرهار يوه له هغو سرحدي ولسواليو ده، چې ډېره برخه يې غرونه او غونډۍ دي. دغه ولسوالي د جلال اباد ښار سوېل ختيځ ته په ١٠٠ کيلومترۍ کې پرته ده. کرنيزه ځمکه يې کمه ده. د دوربابا مشهور زيارت هم په همدې ولسوالۍ کې دى.

## دره نور:

دره نور د جلال اباد ښار په ٤٧ کيلومترۍ کې پرته غرنۍ ولسوالي ده، د دې ولسوالۍ اوسېدونکي پشه يان دي، چې په مالدارۍ او کرنه بوخت دي. د مالدارۍ مهم توليد يې پنير دى، د دې سيمې ښه پنير هغه وي، چې پنځه کلن او خوسا شوى وي.

## لعل پوره:

لعل پوره د ننگرهار يو له هغو سرحدي لويو ولسواليو څخه ده، چې د جلال اباد ښار ختيځ ته په ٥٠ کيلومترۍ کې پرته ده. د دې ولسوالۍ له لارې د کونړ او کابل دواړه سيندونه تېريږي. د يادې ولسوالۍ اکثره اوسېدونکي په کرنه، مالدارۍ او سوداگرۍ بوخت دي. له پاکستان سره اوږده پوله لري او په خوا کې يې د گوشتې ولسوالۍ هم ده.

## گوشته:

گوشته هم د ننگرهار له سرحدي ولسواليو څخه ده، چې د جلال اباد ښار په شمال ختيځه څنډه کې په ٤٠ کيلومترۍ کې پرته ده. دغه ولسوالي له کامې سره په خوا کې ده او له پاکستان سره هم اوږده پوله لري. د يادې ولسوالۍ ډېرې ځمکې غرونو نيولې او اوسېدونکي يې اکثره په ازاد کاروبار بوخت دي.

## سره رود:

د سره رود ولسوالی، چې د جلال اباد ښار لوېديځ خوا ته په لس کيلومترۍ کې پرته ده، اوسېدونکي يې تر ډېره په دري ژبه غږيږي. ياده ولسوالی له جلال اباد ښار سره ګډه پوله لري، کرنيزه ځمکه او نورې وړې کارخانې هم لري. د شاه فيض الله اغا لرغونی مزار او د بودايانو د وخت لرغونې هستوپې او سمڅې په همدې ولسوالۍ کې موجودې دي.

## چپرهار:

چپرهار د جلال اباد ښار سوېل ته پرته ولسوالی ده، چې له بهسودو او مرکز جلال اباد سره ګډه پوله لري. ياده ولسوالي د جلال اباد ښار په ١٥ کيلومترۍ کې پرته او ګڼ نفوسه ولسوالۍ ده.

## خوګيانۍ:

د خوګيانو ولسوالی، چې مرکز يې د کرېږ بازار دی، د جلال اباد ښار سوېل لوېديځ ته په ٢٠ کيلومترۍ کې پرته ده. د يادې ولسوالۍ ځينې سيمې د اوبو له کمښت سره مخ دي، ياده ولسوالۍ يوې خوا ته له سپين غر سره هم پوله لري او هوا يې د ننګرهار د نورو سيمو په پرتله سړه ده او خلک يې تر ډېره په کرنه او ازاد کاروبار بوخت دي.

## هسکه مېنه:

د هسکې مېنې ولسوالۍ د جلال اباد ښار سوېل ته پرته ده، غرونه او غونډۍ په کې ډېر دي او له پاکستان سره لنډه پوله هم لري او بلې غاړې ته يې د کوټ ولسوالی پرته ده. د دې ولسوالۍ په لوړو غرونو کې جلغوزي ډېر پېدا کېږي.

## پچيراګام:

پچيراګام د ننګرهار د مرکز جلال اباد ښار په سوېلي څنډه په ٣٥ کيلومترۍ کې پرته ولسوالۍ ده، چې له چپرهار سره نږدې پوله لري. دغه ولسوالي ډېرې حاصل خېزه ځمکې لري او خلک يې اکثره په کرنه بوخت دي.

## شيرزاد:

د شېرزادو ولسوالی د جلال اباد ښار لوېديځ ته موقعيت لري. ډېرې کرنيزې ځمکې لري او د اوسېدونکو اقتصاد يې ښه دی. دغه ولسوالي له حصارک او خوګيانو سره ګډې پولې لري او له مرکزه نږدې ٦٠ کيلومتره لرې پرته ده.

## حصارک:

حصارک د جلال اباد ښار سوېل لوېدیځ ته په ۱۲۰ کیلومتری کې لرې پرته ولسوالی ده، له ګاونډي ولایت خوست سره شریکه پوله لري. د یادې ولسوالی ډېری اوسېدونکي په مالداری او ازاد تجارت بوخت دي. د دې ولسوالی له لارې کابل ته د لته بند سړک غځیدلی دی.

### د ننګرهار ولایت د میشتو وګړو اټکل د اداري واحد، ښاري، کلیوالي او جنس په توپیر ۱۳۹۷ کال

| شماره | اداري واحد نوم | نسبت جنس | ټول ښاري او کلیوالی | | | ښاري | | | کلیوالی | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | دواړه جنسونه | نارینه | ښځینه | دواړه جنسونه | نارینه | ښځینه | دواړه جنسونه | نارینه | ښځینه |
| ۰ | مجموع/ټول | ١٥٠٫٢ | ١٥٧٣٩٧٣ | ٨٠٦٩٨٨ | ٧٦٦٩٨٥ | ٢٤٤٩٧٢ | ١٢٤٣٩٢ | ١٢٠٥٨٠ | ١٣٢٩٠٠١ | ٦٨٢٥٩٦ | ٦٤٦٤٠٥ |
| ۱ | د ولایت مرکز (جلال اباد) | ١٠٣٫٢ | ٢٣٩٩٦٨ | ١٢١٨٥٧ | ١١٨١١١ | ٢٣٩٩٦٨ | ١٢١٨٥٧ | ١١٨١١١ | _ | _ | _ |
| ۲ | بهسود | ١٠٤٫٢ | ١١٩٨٧١ | ٦١١٣٧ | ٥٨٧٣٤ | _ | _ | _ | ١١٩٨٧١ | ٦١١٣٧ | ٥٨٧٣٤ |
| ۳ | سرخرود | ١٠٧٫٢ | ١٢٧٠٦١ | ٦٤٧٤٤ | ٦١٣١٧ | _ | _ | _ | ١٢٧٠٦١ | ٦٥٧٤٤ | ٦١٣١٧ |
| ٤ | چپرهار | ١٠٤٫٥ | ٦٣٥٩٣ | ٣٢٤٩٩ | ٣١٠٩٤ | _ | _ | _ | ٦٣٥٩٣ | ٣٢٤٩٩ | ٣١٠٩٤ |
| ٥ | کامه | ١٠٦٫٠ | ٨١٠٧١ | ٤١٧١٢ | ٣٩٣٥٩ | _ | _ | _ | ٨١٠٧١ | ٤١٧١٢ | ٣٩٣٥٩ |
| ٦ | کوز کنړ | ١٠٧٫١ | ٥٨٠١٤ | ٢٠٠٠٨ | ٢٨٠٠٦ | _ | _ | _ | ٥٨٠١٤ | ٣٠٠٠٨ | ٢٨٠٠٦ |
| ٧ | رودات | ١٠٦٫٦ | ٧٢٨٩٠ | ٣٧٦٠٤ | ٣٥٢٨٦ | _ | _ | _ | ٧٢٨٩٠ | ٣٧٦٠٤ | ٣٥٢٨٦ |
| ٨ | خوګیاڼی | ١٠٦٫٤ | ١٣٧٧٦٧ | ٧١٠١٨ | ٦٦٧٤٩ | ٥٠٠٤ | ٢٥٣٥ | ٢٤٦٩ | ١٣٢٧٦٣ | ٦٨٤٨٣ | ٦٤٢٨٠ |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٩ | بتی کوټ | ١٠٤٫٧ | ٧٩٨٣٢ | ٤٠٨٤٢ | ٣٨٩٩٠ | _ | _ | _ | ٧٩٨٣٢ | ٤٠٨٤٢ | ٣٨٩٩٠ |
| ١٠ | ده بالا | ١٠٦٫٤ | ٤٢٥١٩ | ٢١٩١٤ | ٢٠٦٠٥ | _ | _ | _ | ٤٢٥١٩ | ٢١٩١٤ | ٢٠٦٠٥ |
| ١١ | پچیراګام | ١٠٦٫٧ | ٤٤٨٧٤ | ٢٣١٦٠ | ٢١٧١٤ | _ | _ | _ | ٤٤٨٧٤ | ٢٣١٦٠ | ٢١٧١٤ |
| ١٢ | دره نور | ١٠٥ | ٤٢٥١٩ | ٢١٧٩٠ | ٢٠٧٢٩ | _ | _ | _ | ٤٢٥١٩ | ٢١٧٩٠ | ٢٠٧٢٩ |
| ١٣ | کوټ | ١٠٣ | ٥٤٩١٦ | ٢٧٨٩٢ | ٢٧٠٢٤ | _ | _ | _ | ٥٤٩١٦ | ٢٧٨٩٢ | ٢٧٠٢٤ |
| ١٤ | ګوشته | ١٠٤ | ٢٨٧٦٠ | ١٤٦٩٣ | ١٤٠٦٧ | _ | _ | _ | ٢٨٧٦٠ | ١٤٦٩٣ | ١٤٠٦٧ |
| ١٥ | اچین | ١٠٥ | ١٠٥٧٤٠ | ٥٤٠٤٠ | ٥١٧٠٠ | _ | _ | _ | ١٠٥٧٤٠ | ٥٤٠٤٠ | ٥١٧٠٠ |
| ١٦ | شینواری | ١٠٥ | ٦٣٢٢١ | ٣٢٣٧٤ | ٣٠٨٤٧ | _ | _ | _ | ٦٣٢٢١ | ٣٢٣٧٤ | ٣٠٨٤٧ |
| ١٧ | مهمند دره | ١٠٦ | ٤٧٣٥٤ | ٢٤٤٠٦ | ٢٢٩٤٨ | _ | _ | _ | ٤٧٣٥٤ | ٢٤٤٠٦ | ٢٢٩٤٨ |
| ١٨ | لعل پور | ١٠٦ | ٢١٥٧٠ | ١١٠٨٢ | ١٠٤٨٨ | _ | _ | _ | ٢١٥٧٠ | ١١٠٨٢ | ١٠٤٨٨ |
| ١٩ | شیرزاد | ١٠٥ | ٦٩٩١٥ | ٣٥٧٣٦ | ٣٤١٧٩ | _ | _ | _ | ٦٩٩١٥ | ٣٥٧٣٦ | ٣٤١٧٩ |
| ٢٠ | نازیان | ١٠٩ | ١٥٤٩٦ | ٨٠٩٤ | ٧٤٠٢ | _ | _ | _ | ١٥٤٩٦ | ٨٠٩٤ | ٧٤٠٢ |
| ٢١ | حصارک | ١٠٦ | ٣٢٤٧٨ | ١٦٦٨٥ | ١٥٧٩٣ | _ | _ | _ | ٣٢٤٧٨ | ١٦٦٨٥ | ١٥٧٩٣ |
| ٢٢ | در بابا | ١٠٧ | ٢٤٥٤٤ | ١٢٧٠١ | ١١٨٤٣ | _ | _ | _ | ٢٤٥٤٤ | ١٢٧٠١ | ١١٨٤٣ |

| د نفوس د ودي کچه ۳,۲ ده | | | |
|---|---|---|---|
| گروپ سنین | هر دوجنس | ذکور | اناث |
| ۰-۱٤ | ٧٤٢٧٥٧ | ٣٧٤٨٥٦ | ٣٦٧٣٤٩ |
| ۱٥-٦٤ | ٧٩٠٢٣٦ | ٤١٦٣٢٠ | ٣٧٤٩٤٨ |
| ٦٥ | ٤٠٩٨٠ | ١٥٨١١ | ٢٤٦٨٧ |

## عمر د ډلو پر بنسټ(۰-۱۴ / ۱۵-۶۵ /تر ۶۵ کاله زیات عمر لرونکي)

دننگرهار ولایت د احصایي دعمومی ریاست د معلوماتو پراساس په لاندنی جدول کی دننگرهار ولایت نفوس دعمر پر اساس ټاکل شوی دی.

| د نفوس سلنه د عمر د ډلو پر بنسټ | | |
|---|---|---|
| گڼه | عمر دډلو پر بنسټ | دنفوس کچه |
| ۱ | ۰-۱۴ | ٧٤٢٬٧٥٧ |
| ۲ | ۱۵-٦٥ | ٧٩٠٬٢٣٦ |
| ۳ | تر ٦٥ کالو زیات عمر لرونکی وګړی | ٤٠٬٩٨٠ |
| | جمله نفوس | ١٬٥٧٣٬٩٧٣ |




## تاریخي ځایونه او آثار

د ننگرهار په سره رود ولسوالۍ کې د بودایانو لرغوني معبدونه، هستوپې، د بهر اباد سمڅې، چهار باغ صفا، د بابر تخت، راه کلان، شاه فیض الله اغا مزار، نجم الدین اخوندزاده، د غوچکو معبدونه، د درونټې معبدونه او داسې نورې موجود دي.

دجلال اباد قصر، دشام محمود بڼ، دذخیره بڼ، دغلام حبدرخان بڼ، دکوکب قصر، دسراج المارت بڼ او قصر، دامیر شهید بڼ او جومات، دجلال اباد شاهی قصر، لرغونه هده، دامیرخیلو ستوپه، ډولکی بابا زیارت، میاعلی صاحب، دشتر هده تپه، موی مبارک، سلطان پور حسینی سفلا، دنملہ بڼ ، دحاصب ولی زیارت، دمیاسرخان بابا زیارت، دابدال بابا زیارت، دافضل غازی زیارت، دستوله بابا زیارت، اخند میا زیارت، یاسین غوندی، ددکی لمسی دپشوری کهنه مسجد اخوند موسی بټي کوټی، میاشرف، ګردی غوث، پاچاخان او داسې نورو مزارونه هم موجود دي.

په ننگرهار کې یو موزیم موجود دی، چې د هډې موزیم په نوم یادیږي، دغه موزیم د ننگرهار د اطلاعات او کولتور د ریاست په چوکاټ کې دی. دغه موزیم ډېر لرغونتوب لري، چې د کورنیو جگړو په ترڅ کې څو ځله وران شوی او بیا لږ لږ جوړ شوی دی.

نمله بڼ چې په ممله باغ هم مشهور دی په افغانستان کی د مغلو د واکمنی یو باغ دی ویل کیږی چې دغه باغ د شاه جهان لخوا د خپلی لور په نامه جوړ شویدی یاد باغ د ننگرهار ولایت د خوگیانیو په والسوالی کی موقعیت لری، د سراج العمارت بڼ چې د جلال اباد ښار په زړه کې موقیعت لري، د حضرتانو جومات چی د سره رود والسوالی کی موقعیت لری.

## عمومي نفوس/ وگړي

د ننگرهار ولایت دنورو ولایتونو په پرتله ترانزیتي ولایت ده دښه او مناسب اقلم په درلودلو سره د ژوند تیرولو او کارکولو لباره دگاوڼدی ولایتونو څخه خلک یاد ولایت دتاریخ په اوږدو کی راکډه شوی نو د نورو ولایتو سره په د گن نفوسه ولایت څخه حسابیږی دننگرهار ولایت د احصایی عمومی ریاست د د معلوماتو پر اساس په ۱۳۹٦ کال کی جمله ۱٬۵۷۳٬۹۷۳ نفوس اټکل شوی، همدارنگه دننگرهار ولایت دنارینوو او ښځینوو نفوس تناسب دشمیر پر اساس ۲،۹/۳ تناسب یی ټاکل شوی. دننگرهار ولایت داحصایی دریاست دسروی په اساس په کال ۱۳۹٦ کال دنفوسو د ودي کچه ۳،۲ % ټاکل شوی، که څه هم ننگرهار یو گڼ نفوسه ولایت شمیرل کیږی خو په ننگرهار کی دژوند دوضیعت دسروی په اساس چی دننگرهار داحصایی ریاست لخوا ترسره شوی په ډاگه کوی چی ټول ۷۷٦۵۸۱ تنه دکارکولو توان لری چی ددی له جملی څخه ۳۹۷۱۷۰ تنه نارینه او ۳۷۹۴۱۱ تنه ښځینه تشکیلوی، دسروی دراپور په اساس ۵۱۱۵۴ تنه بیکاره دی چی ۳۸۴۹۲ تنه نارینه او ۱۳٦۷۸ تنه ښځینه تشکیلوی.

همدارنگه دننگرهار ولایت په مربوطاتو کی دکوچیانو ۵۲۰۰۰ کورنی ژوند کوی چی نفوس یی ۲۰۸۰۰۰ ښودل شوی یاد کوچیان دموسم په گرمیدو سره سړو سیمو ته خپلی کورنی په موقت ډول انتقالوی، دیادونی وړ ده چی پښتانه قومونه



په لویه پیمانه په ولسوالیو او دولسوالیو په کلیو او بانډو کی اوسیږی چی په ننګرهار کی ۱٬۳۳٤٬۰۰۵ خلک دننگرهار په اړونده کلیو کی ژوند کوی ، همدارنګه دننګرهار ولایت په مرکز جلال اباد کی ۲٬۳۹٬۹٦۸ خلک اوسیږی.

د سکټور پر بنسټ د وګړو د بوختیا تناسب ( کرنه، صنعت، خدمتونه، تولید، خصوصي سکټور او سوداګري، عامه اداره/دولت). ننګرهار ولایت چی کرهنیز ولایت دی دکرهنیزو څکمو د خروبونی لپاره پریمانه اوبه لری اکثریت وګړی یی په کرهنه بوخت دی چی له دی ولایت څخه نورو ولایتونو ته سبزیجات او میوجات په هرموسم کی لیږدول کیږی دیاد ولایت د وګړو دبوختیاوو په اړه دننګرهار ولایت داحصایی ریاست دسروی په اساس ۴۴٪ وکړی په کرهنه ۱۸٪ په صنعت او باقی ۳۸٪ وکړی په خدماتی او نور دندو بوخت دی.

لیک لوستی کاري ځواک

په ننګرهار کی د ژوند وضعیت دسروی په اساس چی په ۱۳۹۵ کال کی ترسره شوی ښیی چی ۴۱٪ وګړی نفوس لوستی او ۵۹ ٪ نقوس یی نالوستی دی چی دلوستو له جملی څخه ۵۸،۸ ٪ لوستی نارینه او ۲۲،۲ لوستی ښځینه ښودل شوی همدارنګه په نالوستو کی ۴۱،۲ ٪ نارینه او ۷۷،۵٪ ښځینه ښودل شوی.

| د لیک لوست کاري ځواک جدول | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شاخص (Indicators) | ۲۰۰۷-۲۰۰۸ | ۲۰۱۱-۲۰۱۲ | ۲۰۱۳-۲۰۱٤ | ۲۰۱٦-۲۰۱۷ |
| دځوانانو دسواد کچه (٪) ( ۱۵-۲۴ کلونو پوری) | ۳۳,۸ | ٤۳,٥ | ٥۰,۷ | ٥۱,۲ |
| تر ۱۵ کلونو پوری دسواد کچه ( ٪) | ۲٤,۱ | ۲۷,٦ | ۳۱,۷ | ۳۳,٥ |



# دویم څپرکی

## اقتصادي او ټولنيزې پراختيا ته يوه کتنه

### د کرنې سکټور

دکرهڼې او اوبو لګولو سکتور دهیواد په کچه له مهمو سکټورو څخه شمیر کیږی د کرهڼې او کلیوالي پرمختیا سکټور د یو مهم سکټور په حیث د کرنې دصنعتونو لپاره د خامو موادو څخه د ګټې اخیستنې اوچمتوکولو په ښه والي کې مهم او بنسټیز نقش لوبوي او په دې سکټور کې د حکومت ستراتیژیک هدف دادی چې اوسنۍ دودیز کرنیز سیسټم، په تجارتی کرنه باندې بدل کړي. څکه چې داکار به د معیشت لپاره د خصوصی سکټور پانګې جذب کړي. دکرهڼې او اوبولګولو ریاست د کرهڼې په برخه کی لاندی اهداف لری. د کوپراتیفي غورځنګ سالم انکشاف او د زراعتي تولیداتو د کچې لوړوالی، د ننګرهار په ټولو ولسوالیو او کلیو کې د قانون او د کوپراتیفونو د پرنسپ مطابق د کوپراتیفونو د سازمان د ایجاد او تاسیس له لارې؛ دننګرهارد ولایت په سطحه دحیوانی محصولاتو د کچی لوړول او د مالدارانو د اقتصاد تقویه کول؛د بزګرانو د ژوند ښه والی د محصولاتو د لوړوالی پواسطه چه په منظم او مناسب ډول امراض، افات او د چاپیریال د ککړتیا مخنیوی وشی.د حاصلاتو د کچی لوړول د اصلاح شوی تخمونو، د نوی او مناسب تکنالوژی او اصلاح شوی کرنیز عملیاتو د معرفی پواسطه، د حاصلاتو د کچی لوړول د اصلاح شوی تخنیکی وسایل او ماشین آلاتو د معرفی پواسطه

ننګرهارولایت تل دتاریخ په اوږدوکي خپل لوړنوم ساتلي اومهم اقتصادي ،سوق الجیشي اوزراعتي اوصنعتی موقعیت ئي له لاسه ندي ورکړي .

ننګرهارکه تیروخت کي دوریښمودکاروانونولاره وه اوس هم دهیوادمهمه لویه لاره له دي ولایت څخه تیریږی چي دټول هیواددسوداګری نیم مالونه ورڅخه صادراوواردیږی

همدارنګه دننګرهارکرنیزوځمکوڅخه خصوصآ دژمی لخوادډیروسیمولپاره سابه اونورکرنیزمحصولات عرضه کیږي یادغه رازدټول هیوادلپاره دزیتونوکنسروا،اچارغوړی له همدی ولایت څخه تامینیږی

ننګرهارولایت دافغانستان دنوی ملکي ویش اواداري جوړښت له مخي لومړي درجه ولایت دي چي دجلال ابادښارئي ادری مرکزدی چي ۲۲ ولسوالۍ ۹۹۲ لوي کلي او۱۶۱ کوچني کلي لري چي د۷۶۱۶۰۰ هکتاره زراعتي ځمکي لرونکي ولايت دي چي له دي جملي ۱۳۴۸۶۰ هکتاره طبعي ځنګلونه ،(۲۴۴۱،۱۰) هکتاره مصنوعي ځنګلونه (۳۹۴۸۰۰) هکتاره څړځایونه اوپراخه دښتی لري

خوشبختانه مناسبه هوااوداوبوکافی منابعولرونکی ولایت دی چی دعصری زراعت په راوستلوسره کولی شووچی مجموعی عوائیدڅوبرابره پورته لاړشی پدی لحاظ دماسترپلان په نظرکی نیولوسره دننګرهارپه ولایت کی ښی غلی اودانی چی دغذائی مصونیت مهمه برخه تشکیلوی اودهری کورنی اساسی احتیاجات تضمینوی چی دانکشاف په صورت کی دهری کورنی اووطنوالو لپاره بهترین عوائید دغذایی محصولاتو دپیرودلولپاره حسابیږی همدارنګه دباغونو رغونه اوانکشاف په صورت کی دمیوه جاتودتولیداتوسره کولی شووچی کافی غوائید ترلاسه کړوچی دماسترپلان دتحقق په خاطر دښه کیفیت لرونکوونوباغونو احداث اوانکشاف ورکړو

په همدی ترتیب دننگرهارولایت زیاتی سیمی دمالداری لپاره مناسبی دی چی دانکشاف په صورت کی چی داهم دماسترپلان مهمه برنامه ده چی دضروری امکاناتوپه لرولوسره دعصری وسایلواودپراسس کولودامکاناتوپه صورت کی کولی شووچی محصولاتوته رشداودبهرڅخه واردات کم کړو څنګلونه چی دننگرهارپه ولایت کی په ۱۱ سرحدی ولسولیوکی دیوکمربندپه شکل پراته دی بیارغونه ،انکشاف اودقطع دمخنوی په صورت کی دعوایدبهترینه منبع اونورمستقیم اوغیر مستقیم ګټې په سترګولیدل کیږی

په خلص ډول ویلی شوچي خشبختانه دننگرهارولایت دزراعت اومالداری دانکشاف بهترین اوصافو په لرلوسره مونږ کولی شوودننگرهارولایت انکشافی پلان چی تفصیل یی په هرحصه کی جلاجلاترتیب شوی دتطبیق په صورت کی دعوائیدومهمه منابع ده اوتطبیق ئي ضروری کاردی .

(په دې برخه کې د ولایت د اقتصادي او ټولنیزو څانګو په اړه لنډ مالومات وړاندې کیږي او پر هغه مهمو مالوماتو باندې تأکید کیږي چې په لاندې برخه کې تشریح شوي دي.)

| دننگرهارولایت دولسوالیولنډمعلوماتی جدول | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | دولسوالی نوم | دقریوتعداد | دکرنی ساحه (هکتار) | عمومی مساحت(KM)مربع | دمرکزڅخه فاصله (KM) | دکورنیوتعداد | کتنه |
| ۱ | بهسود | ۵۲ | ۱۷۱۷۲ | ۲۲۰ | ۲ | ۳۲۱۳ | |
| ۲ | کوزکنړ | ۱۸ | ۴۷۳۰ | ۳۲۷ | ۲۴ | ۹۷۴٦ | |
| ۳ | کامه | ۴۵ | ٦٦۳۹ | ۱۷۴ | ۲۵ | ۱۵۰۵۷ | |
| ۴ | بتی کوت | ۲۰ | ۳۸٦۰ | ۱۴۷ | ۲۰ | ۱۱۰۲۴ | |
| ۵ | مهمندره | ۱۵ | ۲۷۱۵ | ۲۸۱ | ۳۰ | ۱۰۹۴۵ | |
| ٦ | سرخرود | ۴۹ | ۹٦۰۰ | ۳۸۳ | ۱۵ | ۲۱۷۴۱ | |
| ۷ | پچیراګام | ۱۳ | ۴۵۵ | ۳۸۵ | ۳۵ | ٦۱۷٦ | |
| ۸ | رودات | ۱۵ | ۲۴۳۱۳ | ٦٦۱ | ۲۰ | ۱۷۲۲۸ | |
| ۹ | چپرهار | ۲٦ | ۳۰۵۰ | ۱۸۵ | ۲٦ | ۸٦۰۴ | |
| ۱۰ | غنی خیل | ۱٦ | ۴۴۰۰ | ۱۷۹ | ۵۰ | ٦۹۱۹ | |
| ۱۱ | اچین | ۹ | ۱۵۷۰ | ۴٦۳ | ۵۵ | ۱۴۲۷٦ | |
| ۱۲ | نازیان | ۱۰ | ۳۰۱٦ | ۹۰ | ٦۰ | ۱۵۷۲ | |
| ۱۳ | لعلپوره | ۱۰ | ۵۵۳۲ | ۵۳۰ | ۷۰ | ۲۹۵۷ | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | ګوشته | ۱۱ | ۲۸۶۳ | ۵۴۵ | ۴۰ | ۲۸۳۰ | |
| ۱۵ | دره نور | ۹ | ۲۰۰۰ | ۳۳۱ | ۳۹ | ۷۸۲۰ | |
| ۱۶ | کوت | ۲۳ | ۲۴۰۰ | | ۴۴ | ۹۴۱۵ | |
| ۱۷ | دوربابا | ۸ | ۵۲۳۷ | ۴۲۷ | ۸۲ | ۵۰۳۲ | |
| ۱۸ | ده بالا | ۲۹ | ۲۰۰۰ | ۴۷۲ | ۵۵ | ۶۶۹۹ | |
| ۱۹ | شیرزاد | ۱۹ | ۱۰۰۰ | ۵۸۳ | ۵۵ | ۹۴۱۵ | |
| ۲۰ | حصارک | ۱۷ | ۴۵۱۷ | ۶۲۴ | ۷۵ | ۵۵۵۶ | |
| ۲۱ | خوګیاني | | ۶۷۷۸ | ۵۷۸ | ۳۸ | | |

ځمکه او اوبه لګونه

د ننګرهار په مربوطاتو کی اوبو دذخیره کولو لپاره چی هم ورځخه دبریښنا په تولید کی کار اخیستل کیږی صرف د درونټې یو بند شتون لری دیادونی وړ ده یاد بند د میلونونو مترمکعب اوبو دذخیر کولو ظرفیت لری

په ننګرهار کی داوبو لګولو لپاره لاندی کانالونه موجود دی

| دننګرهار د خړوبونی سربندونه | |
|---|---|
| ګڼه | بندونه |
| ۱ | دکامی ولسوالی سربند |
| ۲ | دکوزکنر د مروارید کانال او سربند |
| ۳ | دبهسود د و د بحر اباد سربند |
| ۴ | د بهسودو د میرانو د کلی سربند |
| ۵ | د بهسودو دبحراباد  د کلی سربند |
| ۶ | د هیبت خیلو  سربند |
| ۷ | د غنی خیلو د داګی  سربند |
| ۸ | د سرخرود ولسوالی ددشتک فتح اباد سربند |
| ۹ | د سرخرود ولسوالی چار باغ صفا سربند |
| ۱۰ | د خوګیانی د وزیرو سربند |
| ۱۱ | د خوګیانی د قیلغو سربند |
| ۱۲ | د خوګیانی د نملی باغ سربند |
| ۱۳ | د شیرزاد ولسوالی د ماماخیلو د باغ سربند |
| ۱۴ | د شیرزاد ولسوالی د کوتخیلو سربند |
| ۱۵ | دګوشتی ولسوالی د بایوزو سربند |
| ۱۶ | ددرونټی کانال او سربند |

| | |
|---|---|
| ۱۷<br>۱۸ | د تنگی توغچې کانال او سربند<br>سپین غره رودونه او سیلابونه |
| ۱۹ | محلي کاریزونه او چینې |
| ۲۰ | ټیولونه |

د کرنیزو اوبو د سرچینو شمیر او ظرفیت

دننگرهار ولایت په اړونده سیمه کی دکابل او کونړ سیدونو دپیل څخه تر پای نکتی پوري په مختلفو مربوطاتو کی دځمکو دخړوبونو لپاره ډیری سربندونه جوړ شوی ، همدرانګه دځمکو دخړوبونې لپاره کانالونه هم جوړشویو چې سرچینې یې همدا دکابل او کونړ سیندونه دی، دی دته ورته د ننګرهار ولایت په مربوطاتو کی د سپین غر څخه ر راوان رودونو او په مختلفو سمیو کی د سیلابونو داوبو څخه او هم د تاریخی کاریزونو څخه د ځمکی په خړوبونه کی کار اخلی، په بعضی ځایونو کی چې روانی اوبه نه وی هلته دژور یا عمیق ټیولونه څخه د ځمکی په خړوبونه کی کار اخلی .

| ګڼه | د خړوبوني سرچينې |
|---|---|
| ۱ | دکنړسیند |
| ۲ | دکابل سیند |
| ۳ | دکانال دنهرپروژه |
| ۴ | دسپین غره رودونه اوسیلابونه |
| ۵ | محلی کاریزونه اوچینی |
| ٦ | ټیولونه |

## خړوبي کرنيزي ځمکې(خړوبې، للمي) او ظرفيت د هکتار پر بنسټ

| ګڼه | د ځمکې ډول | سیمه په هکتار | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د زمینداری عمومی ساحه | ۷۳۹۷۱۹,۹۰ | |
| ۲ | د کرهنی وړ ځمکه ( ابی ځمکه) | ۱۰٦۰۷۸,۷۰ | |
| ۳ | دځرځایونواوچمن زارونوځمکه | ۲۷۱۰٤۹,۰۰ | |
| ۴ | تاکستانونه | ۲۸۱,۳۰ | |
| ۵ | د میوه دارو باغونه | ٤۲۸٦,۲۰ | |
| ٦ | طبیعی ځنګلونه | ۷۰۵۹٤,٤۰ | |
| ۷ | للمی | ۱۲,۰۰ | |
| ۸ | غیر کرنیزه ځمکه | ۲٤٤۸۷۹,۲۰ | |
| ۹ | داوبو لاندی ځمکه | ۹۰۰۵ | |
| ۱۰ | غیر کرنیزه ځمکه | ۱۱۷٦۱۰ | |
| ۱۱ | جبه زار | ٤۷۷٤,۲۰ | |
| ۱۲ | د سیندونو غاړې | ۲۰۰٥٦,۸۰ | |
| | ټولټال | ۷۳۹۷۱۹,۹۰ | |

# کرنیز محصولات

## د کرنیزو او مالداري محصولاتو ارزښت

### غله

ننگرهار ولایت چې داقلیم له اړخه گرم موسم او هوا لري نو په گرم اقلیم کې نباتات او سبزی جات ښه وده کوی چې له دی جملې څخه په موسمی ډول د ننگرهار په ۲۲ ولسوالیو کې  کې غنم ، اوربشی، وریجی، جوار، ایړدن، نخود، لوبیا، دال، ماش او سویابین په لویه پیمانه حتی په ټنونو باندی تولیږی  چې دتقاضا پربنیاد نورو ولایتونو ته هم صادریږی.

| گڼه | د نبات نوم | ولسوالی | کرنیزه سیمه په هکټار | ټولټال محصول(ټن) |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | غنم | په ۲۲ ولسواليو کی | ۳۵٦۹۴۴ | ۱۱۸۸۹۴۵۱٦۹ |
| ۲ | اوربشي | په ۲۲ ولسواليو کی | ۱۰۰ | ۳۹۹ |
| ۳ | وريجي | په ۱۵ ولسواليو کی | ۵۱٦۴۴ | ۲۰٦۱۵۷ |
| ۴ | جوار | په ۲۲ ولسواليو کی | ۲۷۰۳۲ | ٦۷۳۳٦ |
| ۵ | ایړدن | - | | |
| ٦ | نخود | په ٦ ولسواليو کی | ۵ | ۵۱٦۲ |
| ۷ | لوبیا | په ۱۰ ولسواليو کی | ٦۳ | ۱۱۵۱۷۳ |
| ۸ | دال | - | | |
| ۹ | ماش | په ۲۲ ولسواليو کی | ۷۰ | ۱۳۳ |
| ۱۰ | سویابین | په ۱٦ ولسواليو کی | ۱۰۵,۷ | ۱۵۸۵,۵ |

### میوي

ننگرهارولایت په ۲۲ ولسوالیو کې  کې لندی میوی په لویه پیمانه تولیدی چې دمیوو له جملې څخه شفتالو،زردالو، نارنج، ناک، امرود، مالته، ناک، توت، لیمو، بادام، غوزان چې دزیاتی پریمانی له وجې یی نرخ ډیر راټیټیږی او حتی نورو ولایتونو ته هم انتقالیږی

| شمیره | د میوی نوم | ولسوالی | کرنیزه سیمه په هکټار | ټولټال محصول(ټن) |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | شفتالو | بهسود، کامه ،ښیوه،گوشته ،رودات  او نور | ٦ | ۵۰,۴ |
| ۲ | زردالو | خوگیانی ، حصارک ،نازیان ،کامه، | ۷ | ۷۱۵ |
| ۳ | نارنج | سرخرود،کامه ، بهسود،دره نور ،بهسود،خوگیانی | ۸ | ۸ |
| ۴ | ناک | درن نور ،کامه ،سرخرود،رودات ، ښیوه او نور | ۲ | ۲,۳ |
| ۵ | امرود | بهسود ، کامه ،ښیوه ،سرخرود ، دره نور او نور | ۱,۲ | ۳,۵ |
دا چی د ننگرهار په مرکز جلال اباد کی ۹ بابه دولتی لوی روغتونونه، ۲٦ بابه خصوصی روغتونه، ۲۲ بابه هراړخیز روغتیایی مرکزونه، ۱۵۰ بابه ښځینه زینتونونه او دهمدی ولایت په ولسوالیو کی ۷۲ بابه بنستیز روغتیایی مرکزونه او همدارنگه د عامی روغتیا دمعلوماتو پر بنسټ ۹۰ سلنه خلک روغتیا اسانتیاوو ته لاس رسی هم لری نو جوته خبره ده چی دننگرهار ولسونه هغه خصوصی او دولتی روغتونونه چی ددی ولایت په مرکز او ولسوالیو کی شتون لری په نسبی توگه بسنه کوی.

| په دولتي کلینکونوکی دناروغانو تعداد | په دولتی کلنیکونو کی داکتران | په خصوصی روغتونو کی دناروغانو تعداد | په خصوصی روغتونو کی دداکترانو تعداد | دتناسب پرتله |
|---|---|---|---|---|
| **په خصوصي او دولتي کلينيکونو کې د ناروغانو او ډاکټرانو د تناسب پرتله** | | | | |
| ٥٧١٩٤٠٠ | ٤٥٤ | ١٤٠٠٠٠ | ١٩٩ | ٥٧١٩٤٠٠ناروغان د ٤٥٤ داکترانو به تناسب کتل شویدی په دولتی کلینکونو کی چی نظر ناروغانو ته دډاکترانو تناسب کم دی او ١٤٠٠٠٠ ناورغانو د ١٩٩ ډاکترانو په تناسب په خصوصی روغتونونو کی کتل شویدی چی نظر ناروغانو ته دداکترانو تناسب زیات دی |

# په خصوصي او دولتي کلينيکونو کې د ښځو او نرانو لپاره د خدمتونو د اراېې کيفيت

| په دولتی کلینکونوکی ښځو لپاره دخدمتونو دوراندی کولو کیفیت | په دولتی کلینکونوکی نارینه و لپاره دخدمتونو دوړاندی کولو کیفیت | په خصوصی روغتونو کی دښځولپاره دخدمتونو دوړاندی کولو کیفیت | په خصوصی روغتونو کی دنارینه و لپاره دخدمتونو دوړاندی کولو کیفیت |
|---|---|---|---|
| ١- دولادی نسایی خدماتو کی دپخوا به پرتله ښه شوی اولایت په سطحه دمیندو دمړینی کچه کمه شویدی<br>٢- واکسین دتطبیق خدماتوساحه پراخه شوی اوتولی میندی خپل واکسینونه په خپل وخت اخلی اومعیوبیت کچه په ولایت کی کمه شویدی<br>٣- دښځولاس راسی روغتیایی خدمتونو ته پخوا په پرتله زیات شوی | ١- په نارینه وو کی دپخوا په نسبت دعامه پوهاوی کچه ښه شویدی<br>٢- دنارینه وو ورتگ روغتیایی مرکزونه ښه شویدی<br>٣- دمعلولیت کچه په نارینه وو کی ښه شویدی<br>۴- روغتیایی خدماتو ته لاس راسی دنارینه وو پخوا په پرتله ښه شویدی | ١- دولادی نسایی خدماتو کی دپخوا به پرتله ښه شوی اودولایت په سطحه دمیندو دمړینی کچه کمه شویدی<br>٢- واکسین دتطبیق خدماتوساحه پراخه شوی اوتولی میندی خپل واکسینونه په خپل وخت اخلی اومعیوبیت کچه په ولایت کی کمه شویدی<br>٣- دښځولاس راسی روغتیایی خدمتونو ته پخوا په پرتله زیات شوی | ١- په نارینه وو کی دپخوا په نسبت دعامه پوهاوی کچه ښه شویدی<br>٢- دنارینه وو ورتگ خصوصی روغتیایی مرکزونه ښه شویدی<br>٣- دمعلولیت کچه په نارینه وو کی ښه شویدی<br>۴- روغتیایی خدماتو ته لاس راسی دنارینه وو پخوا په پرتله ښه شویدی<br>۵- نارینه پرسونل په روغتیایی مرکزونوکی زیات شویدی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴- ښځینه پرسونل په ټولو روغتیایی مرکزونو کی شتون لری اوښځینه وو ستونزی پری حل شویدی<br>۵- دښځوبرخه کی عامه پوهاوی زیات ښه شویدی دپخوا په پرتله<br>٦- قابلیی،نرسانی زیاتی روزل شویدی<br>۷- وقایوی خدمتونه دپخوا په نسبت ښه شویدی | ۵- نارینه پرسونل په روغتیایی مرکزونوکی زیات شویدی<br>٦- نارینه وو ته روغتیایی تعلمیات زمینه په دولتی سکتور کی ښه شوی دی<br>۷- وقایوی اوساری ناروغیو خدمتونو دپخوا په پرتله ښه شویدی | ۴- ښځینه پرسونل په ټولو روغتونونو کی شتون لری اوښځینه وو ستونزی پری حل شویدی | ٦- نارینه وو ته روغتیایی تعلمیات زمینه په خصوصی سکتور کی ښه شوی دی |

درملتونونه

دننګرهار ولایت کی  دمرکز او ولسوالیو په شمول ټولټال ۸۱۷ درملتونونه وجودلری. روغتیايي متخصصین او مسلکي کسان د جنسیت په پام کي نیولوسره د ډاکټرانو، متخصصینو، نرسانو او قابله ګانو شمېر(نارینه او ښځینه)

| درملتونونه | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| متخصص نارینه داکتران | متخصص ښځینه | معالج نارینه داکتران | معالج ښځینه داکتران | نارینه نرسان | ښځینه نرسان | قابلی | دتغذی ښځینه مشاورینی | نارینه | ښځینه واکسیناتوران | بیاکتنه |
| ۵۷ | ۱۳ | ۳۲۹ | ۵۵ | ۲۹۹ | ۹٦ | ۲٤۵ | ۱۳۲ | ۱۹۸ | ۳۳ | |

د مسلکي قابلو په مرسته د زیږونونو شمیر دوړو قابلو په واسطه نظارت شوی زیږونه په لاندی جدول کی توحید شوی دی.

| د زیږونونو شمیر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دقابلوشمیره | نورمال زیږونونه | مرسته شوی زیږونونه | عملیاتی زیږونونه | مجموعه |
| ۲٤۵ | ۷۳٤۵٦ | ۲۲۹۹ | ۳۸۳٦ | ۷۹۸۳۲ |

تر زیږون مخکې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی په اوسنی وختونو کی حمل لروونکی ښځی دخپل ځان  او دماشوم دصحت لپاره په دوامداره توګه دمعایناتو لپاره نیږدی کلینونو ته مراجعه کوی ، همدارنګه په اوسنی وخت کی په لویه کچه ښځینه زیږون په روغتونو کی ترسره کوی نو دزیږون څخه مخکی خدمتونو ته لاسرسی په لاندی جدول کی شودل شوی

| تر زیږون مخکی روغتیا خدماتو ته لاسرسی جدول | | |
|---|---|---|
| دزیږون څخه دمخه پالینی | دزیږون څخه وروسته پالینی | مجموعه |
| ۱۲۸۰٤۸ | ۱۰۲۷۹۳ | ۲۳۰۸٤۱ |

د میندو د مړینې کچه دننګرهار په ولایت کی په هر ۱۰۰۰۰۰ ( سل زرو ) میندو دمړینی کچه ۸ سلنه ده چی له بده مرغه د HMIS دراپور په اساس د ۱۳۹٦کال په جریان کی ٦ میندو خپل ژوندد دلاسه ورکړ.

د ماشومانو د مړینې کچه دننګرهار ولایت په هرو ۱۰۰۰ ( زرو) نوی زیږیدلو ماشومانو کی دمړینی کچه ۱۲سلنه ښودل شوی چی له بده مرغه د د HMIS دراپور په اساس د ۱۳۹٦ کال په جریان کی ۹۰۰ ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړی

د خوارځواکی(سؤتغدي) کچه دننګرهار ولایت کی دخوارځواکی کچه ۴۴ سلنه ده چی د ۱۳۹٦ کال په جریان کی ۵۲۹۴۰ ماشومان په خوارځواکی اخته شوی دی

د روغتیا په برخه کې بودیجه او پانګونه

په تیرو پینځوکلونو کې، د روغتیایي سکټور لپاره ټولټال کلنی پرمختیایي بودیجه په تیرو پنځو کلنو کی دننګرهار ولایت دعامی روغتیا سکتور ته ٤٣٨٬٠٤٢٬٧١٥ افغانی دپرمختیایی بودجه په توګه ورکړل شوی و او لګښت یی ۳۹۳٬۳۰٦٬۱۸٦ ده

| دروغتیا سکتور دتیرو پنځو کلنو پراختیایی بودجه او لګښت | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | دبودیجی کال | کلنی پرمختیایی بودجه | دپرمختیایی بودیجی لګښت مجموعه |
| ۱ | ۱۳۹۲ | ۲۲۵۹۷۷۵۷ | ۲۲۰۱۹٦۵۰ |
| ۲ | ۱۳۹۳ | ۱۳۱۹۷۷۰۰ | ۱۲۲٦۹۳۰۲ |
| ۳ | ۱۳۹٤ | ۲٤۷۳٦۰٦۸ | ۲۳۰٤۷۰۱۷ |
| ۴ | ۱۳۹٥ | ۱٤۸۲۷۹۳۵۳ | ۱۱۲٤۹٤۷۱۱ |
| ۵ | ۱۳۹٦ | ۲۲۹۲۳۱۸۳۷ | ۲۲۳٤۷۵۵۰٦ |
| | جمله | ٤٣٨٬٠٤٢٬٧١٥ | ۳۹۳٬۳۰٦٬۱۸٦ |




د روغتیا په برخه کې د خصوصي پانګوني کچه

دننگرهار په ولایت کی دخصوصی روغتونونو چی شمیر یی ۲٦ بابه ښودل شوی او د تشخصیه روغتیایی کلینکونه چی شمیر یی ۳۷ بابه ښودل شوی او دخصوصی درملتونو په هلکه چی شمیر یی ۸۱۷ بابه ښودل شوی دننگرهار ولسونو لخوا په دی ډگر کی پانگونه شوی دیادونی وړ ده چی یاد خصوصی روغتونونه، کلینیکونه او درملتونونه د ولسونو داړتیا سره سره په معیاری شکل خدمات وړاندی کوی، یو له دی پانگوالو څه چی په بی ساری

توگه خدمات وړاندی کوی په لاندی جدول کی یی یادونه شوی.

| دخصوصی پانگوال نوم | دکاری ساحی ځای اولگښت |
|---|---|
| یوتن هیوادوال عطاوالرحمن هډوالو | دننگرهار حوزوی روغتون کی دتلیسیما ناروغیو مرکزد۱۰۰۰۰۰۰۰ (لس میلونه )افغانیو په ارزښت جوړشوی چی عملا دهغه ناروغانو لپاره ددوینی کموالی لری دیاد روغتون روغتیایی څانگه کی ورته خدمات برابرشوی اوهم ویب سایت له لاری دوینی کراس چک کیږی دضرورت په وخت یاد کسان غوښتل کیږی اوخپل وینه په وړیا توکه ورکوی |

## د روغتیاپه برخه کې د نادولتي مرستندویه موسسو او پرمختیایي شریکانو مرسته

| شماره | نادولتی موسسی نوم | کاری ځای | دونر |
|---|---|---|---|
| ۱ | AADA | دولسوالیو روغتیایی مرکزنو کی روغتیایی خدمتونه وړاندی کول | نړیوال بانک |
| ۲ | HN-TPO | ننگرهار سمیه ایز روغتون کی روغتیایی خدمتونه مخی ته وړی او دوه سیار روغتیایی تیمونه دکوچیانو لپاره روغتیایی خدمتونه وړاندی کوی | نړیوال بانک اودعامی روغتیا وزارت انکشافی بودیجه |
| ۳ | PU-AMI | مختلیفو ولسوالیوکی دموبایل یا گرځینده روغتیایی خدمتونه وړاندی کول | دCHFاوECHO |
| ٤ | AWAKEN | دبهسودو ولسوالی دقلعه ملک په کلی کی اساسی روغتیایی مرکز کی روغتیایی خدمتونه وړاندی کوی | په امریکا کی دافغان ښځو ټولنه |
| ٥ | UMCA | دجلال اباد ښار زاړی څارنوالی په ساحه کی دیو اساسی روغتیایی مرکز کی روغتیایی خدمتونه وړاندی کول | جاپان هیواد مرسته |
| ٦ | PMS | په دره نور ولسوالی دقلعه شاهی په ساحه کی روغتیایی خدماتو وړاندی کوی | جاپان هیواد دسولی انستیتوت اداره |
| ۷ | ARCS | په جلال ابادښار،دره نور،حصارک ولسوالیو کی داساسی روغتیایی مرکزونو پواسطه روغتیایی خدمتونه وړاندی کوی | دافغانستان سری میاشتی ریاست |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ | Save the children | په بهسود،کامه اوسرخرود ولسوالیو کی دګرځېنده روغتیایی مرکزونو پواسطه روغتیایی خدمتونو وړاندی کوی | کاناډا هیواد |
| ۹ | Relief International | داخلی بی ځایه شوو کډوالو ته په سرخرود ولسوالی کی روغتیایی خدمتونه وړاندی کوی | OCHA اداره |
| ۱۰ | IHSAN | په ۱۹ ولسوالیو کی دتغذی خدمتونه وړاندی کوی | کاناډا هیواد |
| ۱۱ | UNECEF | دواکسنیونو،تغذی اودموراوماشوم دخدمتونو په برخه کی لازمه همکاری کوی | جاپان |
| ۱۲ | WHO | دواکسین په تهیه،ایمرجنسی  اودرملو په برخه کی دعامی روغتیاریاست سره لازمه همکاری کوی | دروغتیانړیوال سازمان غړی هیوادونه |

زیربنا او طبیعي سرچینو سکتور

دزیربنا او طبیعی سرچینو سکتور دهیواد او منطقی په ابادی او بیا رغونه کی رغنده نقش لوبوی، چی دهیواد دلویو لارو ډیزاینول او جوړول یی له اساسی دندو څخه شمیرل کیږی، چی نه تنها سړکونه بلکه په لویو لارو کی تونلونه، او لوړ او لوی پلونه جوړول یی هم له دندو څخه شمیرل کیږی، دننگرهار ولایت دښاری او کلیوالو دسړکونو مجموعه دکلیومتر په حساب ۸٦٥،۵ کلیومتره  او عرض یی ۷ متره دی، دکیلو متر په حساب دننگرهار په مربوطاتو کی ۷۸٦ کیلو متر سړکونه اسفالټ شوی او۷۹،۵ کیلو متر سړکونو باندی جغل اچول شوی چی دیادو سړکونو عرض ۷ متر ده، دبریښنا په اړه دننگرها ولایت دبریښنا شرکت د معلوماتو پر اساس تر ۱۳۹٦ کال پوری ۴۳۰۰۰ خلک  چی په اوسط ډول ۸٦۰۰ کورنی کیږی دبریښنا څخه مستفید شوی، هیره دی نه وی چی په ننگرهار کی دډوندانه دوضعیت دسروی له مخی چی په ۱۳۹۵کال کی یی ترسره کړی ۸۳،۸٪ خلک سالمو اوبه ته لاس رسی لری،  همدارنگه دننگرهار ولایت دکانونو کلنی  مجموعه عواید په کال ۱۳۹٦ کال کی۲۹٦٬٦٬۱۹٦۳۳،۰۰  ددولت خزانی ته تحویل شوی. پ دمخابراتو په اړه په عمومی ډول تقریباٌ ۸۷٪ دننگرهار ولایت ساحات دمخابراتی پوښښ لاندی دی

## سړکونو ته لاسرسی

| د ننگرهار ولایت د قیر ریزی او جغلی اندازی شوی سړکونه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د سرک موقیعت | طول په کیلو متر | د فرش نوعیت | د سرک کټګوری | ملاحظات |
| ۱ | جلال اباد__طورخم اول لین | ۷۷ | قیر | RH | |
| ۲ | بای پاس سرک | ۱۹ | کانکریت | RH | |
| ۳ | مارکو او غنی خیل | ۱۰ | DBST | PH | |
| ٤ | جلال اباد -  درونټه | ۱۵ | قیر | RH | |
| ۵ | کامی پول – کامی ولسوالی | ۱٦ | DBST | RH | |
| ٦ | غنی خیل – اچین | ۹ | قیر | PH | |
| ۷ | د رودات ولسوالی سرک | ٦ | قیر | PH | |
| ۸ | د کوټ ولسوالی سرک | ۱۵ | قیر | PH | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | جلال اباد ـ چپرهار | ۳۳ | قیر | PH | |
| ۱۰ | جلال اباد ــ کونړ | ٤۸ | DBST | NH | |
| ۱۱ | سرخرود ــــ خوگیانی | ۲٥ | DBST | NH | |
| ۱۲ | غنی خیل ــــ نازیان | ۹ | قیر | NH | |
| ۱۳ | پیوی کنډو ــــ هسکه مینه | ۲٥ | قیر | PH | |
| ١٤ | جلال اباد__طورخم دویم لین | ۷۷ | قیر | RH | |
| ۱٥ | د ده بالا ولسوالی سرک | ۲٥ | قیر | PH | |
| ١٦ | دره نور ولسوالی سرک | ۱۰ | قیر | PH | |
| ۱۷ | د ده بالا حلقوی سرک | ۲۳ | قیر | PH | |
| ۱۸ | دپچیراگام او ــــ ده بالا حلقوی سرک | ۲۸ | قیر | PH | |
| ۱۹ | پچیر اگام ــــ خوگیانی | ۱۲ | قیر | PH | |
| ۲۰ | اچین ـ کوټ | ۲۰ | قیر | PH | |
| ۲۱ | خوگیانی ــــ شیرزاد | ۲۷ | قیر | PH | |
| ۲۲ | د لعلپوری ولسوالی سرک | ۱۲ | قیر | PH | |
| ۲۳ | د کامی او گوشتی ولسوالیو سرک | ۱٥ | قیر | PH | |
| ۲٤ | د نازیان ــــ طورخم حلقوی سرک | ۲۷ | قیر | PH | |
| ۲٥ | د نازیان____اچین حلقوی سرک | ١٤ | قیر | PH | |
| ٢٦ | د بهسود پول ــــ درونټې | ١٤ | قیر | PH | |
| ۲۷ | د پچیر اگام ولسوالی سرک | ۳۳ | قیر | PH | |
| ۲۸ | د چمتال ـ خوگیانی سرک | ۱۱ | قیر | PH | |
| ۲۹ | د کابل جلال اباد سپړی شوی دویم لین سرک | ۱۰٦ | قیر | NH | |
| | مجموعه کیلو متر | ۷۸٦ | | | |
| | **جغلی سرکونه** | | | | |
| ۱ | د نیر غاړی سرک د کابل هډی تر درونټې | ۱۸ | جغلی | PH | |
| ۲ | د شیرزاد دو سرکی ــــ وزیر خوگیانی | ۸ | جغلی | PH | |
| ۳ | د دوربابا ولسوالی سرک | ۲٥ | جغلی | PH | |
| ٤ | د برکاشکوټ سرک | ۱۲ | جغلی | PH | |
| ٥ | د گوشتی ولسوالی گلډاگ سرک | ۲۸ | جغلی | PH | |
| ٦ | د کامی ولسوالی مرزاخیل سرک | ۳,٥ | جغلی | PH | |
| ۷ | د چپرهار او پچیراگام ولسوالیو ترمنځ سرک | ٤ | جغلی | PH | |
| ۸ | له نازیانو تر ــــ میلوی کندو سرک | ۱۲ | جغلی | PH | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | ۱۱۰،۵ | مجموع کیلو متر |

د کیلومتر په حساب د ښاري او کلیوالي سړکونو ټولټال

دننګرهار ولایت دټولګټو چارو ریاست دسرکونو دساتنی او څارنی لوی ریاست  دخپل کاری مکلفیتونو اودخلکو دستونزوویه پام کی نیولوسره تل زیارایستلی دی چه سرکونه اولاری دترافیکوپرمخ چه دطبعی پیښوپرواړاندی ترړل شوی وی خلاصی وساتی او ترڅارنی لاندی یی ونیسی .داچه سرکونه دهیواد میلی شتمنی ده اودهغی ساتنه اوڅارنه دپلان په مطابق چه له وړاندی دمالی امکاناتوپه محدوده کی ترتیب شوی دکال په اوږدوکی فعالیت کوی چه په دی اساس دترافیکوپرمخ ولایتی سرکونه(PH)،منطقوی سرکونه (RH) اودولسوالی سرکونه (NH) دټولګټوریاست دعمده فعالیتونوڅخه دی

دننګرهار ولایت دښاری او کلیوالو دسړکونو مجموعه دکلیومتر په حساب ۸۹٦،۵ کلیومتره  او عرض یی ۷ متره دی

د ولایت هوایي ډګرونه او ټرانسپورټي سیستم

دننګرهار په ولایت کی یو هوایی ډګر شتون لری چی دمګړی هغه هوایی ډګر امریکایی ځواکونو په واک کی ده او ددی هوایي ډګر څخه د اړتیا په صورت کی افغان ځواکونه هم ګټه اخلي خو دملکی پروازونو پر مخ تړل شوی

ننګرهار ولایت دګڼ نفوسه ولایتونو له جملی څخه شمیرل کیږی په مجموعی توګه دمرکز په شمول حتی دلری ولسوالیو خلک هم ځمکنی ترانسپورت ته لاس رسی لری، ځکه دپخوا څخه په اوسنی وختونو کی دخلکو اقتصادی وضیعت ښه شوی نو اکثره خلک په کورنو کی موټر لری، همدارنګه په ننګرهار کی صرف یو هوایی ډګر شتون لری چی دهغه هوایی ډګر څخه ملکی او عام ولسونه استفاده نشی کولای ځکه چی یاد هوایی ډګر دامریکایی ځواکونو په واک کی ده.

د ولایت بریښنا

دننګرهار ولایت مرکز جلال او نیږدی همجوارې ولسوالیو بعضی سیمی د دجلال باد ښار کی د درونټې او دنغلو دوارداتی بریښنا په واسطه تریوښښ لاندی نیول شوي   دننګرها ولایت دبریښنا شرکت د معلوماتو پر اساس تر ۱۳۹٦ کال پوری ۴۳۰۰۰ خلک  چی په اوسط ډول ۸٦۰۰ کورنی کیږی دبریښنا څخه مستفید شوی.

دننګرهار ولایت کی دبریښنا څلور سب سټیشنونه شتون لری چی عبارت دی د مرکزی سب سټیشن، دزیتون دفابریکی سب سټیشن، دغوچک سب سټیشن او دهمیشه بهار سب سټیشن چی ۱۱۰/۲۰ کیلو واټ ولتاژ لری چی دنغلو د وارداتی بریښنا څخه تغذیه کیږی.

دیادونی وړ ده دکابل ارغندی څخه د ننګرهار په طرف د ۲۲۰ کیلوواټ  په ظرفیت د بریښنا انتقال صورت ومومی خو تر دی دمه د  احتمالی سروی چاری لا تر اوسه ندی بشپړی شوی ، ددی وارداتی بریښنا لپاره به سټیشن دشیخ مصری په ساحه کی جوړیږی، چی دا یوه ډیره حیاتی پروژه ده چی ددی لاین څخه به دکنړ ولایت ته بریښنا هم ورکول کیږی.

ددرونټې او د نغلو د وارداتی سټسشن شتون لری، ددرونټې بریښنا کوټ ( سټیشن ) اوسط ولتاژ ٦/ ۳۵کیلو واټ ( ۹ میګا واټ ) او دنغلو وارداتی بریښتا سټیشن اوسط ولتاژ ۱۱۰/۲۰ کیلو واټ ( ٥٦ میګاواټ ) بریښتا واردوی.

دجنوبی اسیا لپاره دکاسا (۱۰۰۰) پروژه دشیخ مصری سټیشن سره وصل کیږی او ددی لاری څخه به پاکستان ته هم بریښنا انتقال مومی.

همدارنگه دکامی دبرېښنا بند چې دکنړ په سیند به جوړېږی د۴۵ میگاواټه په اندازې ظرفیت لری ابتدایی چاری یی اعلان ته سپارل شوی.

د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی

په ننگرهار کی ددژوندانه دوضیعت دسروی له مخی چی په ۱۳۹۵ کال کی یی ترسره کړی ۸۳،۸٪ خلک سالمو اوبه ته لاس رسی لری. پاکو صحی اوبو ته دجلال اباد دښار په شمول دبعضی ولسوالیو اکثره سیمی په بشپړه توگه او بعضی سیمی او کلی په څه ناڅه شکل دڅښلو پاکو اوبوته لاس رسی لری، دغه پاکی اوبه دکوهیانو او داوبو دنللیکو په واسطه خلکو ته رسول شوی دی.

هغه ولسوالی او کلی یی چې بعضی کلی په بشپړه توگه او بعضی په څه ناڅه شکل اوبو ته لاس رسی لری په لاندی ډول تری یادونه شوی.

اچین، خوگیاڼی، گوښته، مهمندره، رودات، دره نور، کامه، سره رود، بهسود، لعلپوره، نازیان همدارنگه د ننگرهار د دښاری اوبو رسوونی داداره دمعلوماتو پر بنسټ دجلال اباد په ښار کی په اوسط ډول سل زره ( ۱۰۰۰۰۰) وکړي پاکو صحی اوبو ته لاس رسی لری، دجلال اباد په ښار کی د ۱۹۲ کیلو متر شبکی لری چی ۲۲ کیلو متر انتقالی او ۱۷۷ کیلو متر توزیعی شبکی دی، دیادونی وړ ده چی دجلال ابد په ښار کی ۱٦٪ وکړی پاکو اوبو ته لاس رسی لری.




په ولایت کې مالوماتي ټکنالوژي

دمخابراتو او معلوماتی تکنالوژی سکتور په هیواد کی په ځانگړی توگه دولایت په کچه یو له بنسټیزو ریاستونو څخه شمیرل کیږی چی داقتصادی ودی په برخه کی حیاتی نقش لوبوی، دهمدی اهمیت له کبله دا سکتوری دپرمختیایی ستراتیژۍ په برخه کی دیوه ځانگړی سکتور په توگه په نظر کی نیول شوی ، یو عصری مخابراتی سیستم کولای شی له نوښتونو سره یوځای دیوی قوی الکترونیکی اداری گټورتوب او ددولتی سکتور روڼوالی همدا شان دټولنیزو خدماتو ارایه کړندی کړی، دیادونی وړ ده چی په ننگرهار کی دافغان ټیلیکم مخابراتی شبکه، سلام مخابراتی شبکه، روشن مخابراتی

شبکه، افغان بیسم مخابراتی شبکه، اریبا مخابراتی شبکه، او داتصالاتو مخابراتی شبکی دننگرهار مربوطات په مخابراتی سیستم باندی پوښلی دی، په عمومی ډول تقریباً ۸۷٪ دننگرهار ولایت ساحات دمخابراتی پوښښ لاندی دی

## صنعتي فابریکي

دننگرهار ولایت په مربوطاتو کی ۲۸۰ صنعتی او تولیدی فابریکی په مختلفو برخو کی فعالیتونه کوی چی یادی فابریکی او شرکتونه دننگرهار ولایت په مرکز جلال اباد ښار او اړونده ولسوالیو کی فعالیتونه کوی. دیادونی وړ ده چی یادی فابریکی په لاندی جدول کی ذکر شوی فعالیتونه ترسره کوی.

| ګڼ | دفعالیت ډول | ګڼ | دفعالیت ډول |
|---|---|---|---|
| ۱ | چپس ، چناچور او نیمکو تولید | ۲۳ | ایسکریم او یخ تولید |
| ۲ | مربا، اچار تولید | ۲۴ | دچرمی چپلکو او بوټانو تولید |
| ۳ | بسکټ او کلیک او دبیکری اړونده خوراکی توکو تولید | ۲۵ | داوړو او وریجو او خوراکی باب تولید |
| ۴ | دروپ تولید | ۲۶ | دچرګانو، هګیو او دچرګوړو تولید |
| ۵ | پاپړ تولید | ۲۷ | ددیګ بخارونو تولید |
| ٦ | دپی وی سی پایپ تولید | ۲۸ | داسوپنیزو کاری توکو تولید |
| ۷ | جوس تولید | ۲۹ | دکنجاړی او غوړیو تولید |
| ۸ | دمعدنی اوبو تولید | ۳۰ | دعطرو تولید |
| ۹ | دشامپو او دکالیو وینځلو دپوډرو تولید | ۳۱ | پرنیجیر (میزونو، الماریو او دفتری توکو ) تولید |
| ۱۰ | دلوښو د وینځلو دشامپو تولید | ۳۲ | دتجهیزی لرګینو توکو( دروازی، کړکی او تاخچو ) تولید |
| ۱۱ | دماربل پروسس کول | ۳۳ | داوسپنیزو تعمیراتی توکو( دروازه، ور او کړکیو تولید) |
| ۱۲ | دشوکاټو او مرمرو استخراج تولید | ۳۴ | دقالینو اوبدل |
| ۱۳ | حرفوی زده کړې او لاسی صنایع | ۳۵ | دتارونو جوړول |
| ۱۴ | ګلدوزی او خیاطی | ۳٦ | دکارتن جوړول |
| ۱۵ | دخادرونو رختونو تولیدول | ۳۷ | دبکسونو جوړول |
| ۱٦ | برقی توربینونو او ساختمانی ماشینونو تولیدول | ۳۸ | دکولر او پکیو جوړول |
| ۱۷ | پروفیل تل او سیخ ګول تولید | ۳۹ | چاپ او ډیزاینول |
| ۱۸ | دبرق لاین تولید | ۴۰ | دوچو میوو پروسس کول |
| ۱۹ | پلاستیکی فرش تولید | ۴۱ | دشهدو تولید |
| ۲۰ | دایودین مالګی تولید | ۴۲ | دنیالکیو تولید |
| ۲۱ | دیونانی دواګانو تولید | ۴۳ | دنکریزو تولیدول |
| ۲۲ | دتیزابو تولید | | |

## صنعتي پارکونه

دننگرهار په ولایت کی دری صنعنی پارکونه جوړشوي په لاندی جدول کی یی بشپړ معلومات ثبت شوی دی

| ګڼه | دصنعتی پارک نوم | دصنعتی پارک موقیعوت | دپارک اوسنی وضیعت | دصنعتی پارک ضرفیت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | شیخ مصری صنعتی پارک | سره رود ولسوالی | ۴۷۳ نمری توزیع شوی | ٦۳۵ فابریکو ظرفیت لري |
| ۲ | حصارشاهی صنعتی پارک | رودات ولسوالی | ۸٦ نمبری توضیع شوی | ۳۰۰ فابریکو ظرفیت لري |
| ۳ | دقالین اوبدلو شیخ مصری صنعتی پارک | چپرهارولسوالی | نمبری توزشیع شوی ندی | . |

په زیربنایي سکتور کې د وګړو د بوختیا کچه

دننګرهار ولایت دبنستونو په سکتور کی دوګړو دبوختیا کچه د۳۰۰۰ نفرو څخه تر ۳۵۰۰ پوری اټل شوی چی په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت دی.

کانونه او کلني عواید یی

کانونه دهیواد په بډاینی او اقتصادی پیاوړتیا کی رغنده رول لری چی له نیکه مرغه دننګرهار ولایت اړونده غرنی سیمی دکانونو دشتون له امله خاص اهمیت پیداکړی، په ننګرهار کی دکانونو ظرفیت لپاره جیولوجیکی سروی تر دی دمه صورت ندی نیولی ترڅو دکانی موادو دقیق ظرفیت معلوم شی خو دسروی په صورت کی تنها دکانونو دشتون او موجودیت ډاډ ورکړل شوی، په ننګرهار ولایت کې لړ شمیر طبیعي زېرمې تثبیت شوي دي، چې راسپړل یې دوام لري. د یادولو وړ طبیعي زېرمې یې د ډېرو سکاره، شوکانی، چوني ډبره او مرمر دي. د ننګرهار د خوګیاڼو د مرمرو کانونه ډېر مشهور دي، چې له تیرو څو کلونو راهیسي یې راویستنه دوام لري. که څه هم ننګرهار ولایت دکانونو له اړخه بډایه ولایت کی په ټوله کی له ۳۰۰۰ څخه تر ۳۵۰۰ پوری وګړی په مستقیم او غیر مستقیم شکل په کانونو کی په کار بوخت دی. دننګرهار ولایت د کانونو ریاست دراپور په اساس دکانونو مجموعی کلنی صادراتی عواید ۲٬۹٦٦٬٦۱۹٬٦۳۳٫۰۰ ددولت ولایتی خزانی ته تحویل شوی دی.

دیادونی وړ ده چی له څو کالونو راهیسی دمرمر او شوکانی کانونه کیندل کیږی چی په ۱۳۹٦ کال کی دشوکانی او مرمر کانونو دکیندلو په صورت کی ۴۲۲٦۰۸ ټنه شوکانی او ۸۵۱ ټنه مرمر استخراج شوی دی.

| په ننګرهار کی کانونه | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | دکان ډول | ولسوالی | دکان موقیعت په سیمه کی |
| ۱ | دمرمرو تیګه | حصارک | دناور تنګی مرمر |
| | | شیزازد | دمرکیخیلو دصد کڅ دسیمی مرمر |
| | | شیرزاد | دکودیخیلو دسیمی مرمر |
| | | نازیان | دلعل تنګی دسیمی مرمر |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | پچیر اگام | دمرغابی دسیمی مرمر |
| ٢ | دشوکاڼی تیره | حصارک | دګړی او لاجیګړ دساحاتو شوکانی |
| | | شیرزاد | دمرکیخیلو او کودیخیلو دساحاتو شوکڼی |
| | | پچیراګام | دلکی تیری او صالح ګل بابا  دساحاتو شوکاڼی |
| | | هسکه مینه | داغوز تنګی دساحی شوکاڼی |
| | | اچین | دمامند دری او عبدالخیلو دساحاتو شوکاڼی |
| | | کوټ | وچ کوټ او ایتنګ دساحاتو شوکاڼی |
| ٣ | ګچ ډبره | خوګیاڼی | دټینګ دسیمی دګچو دتیری کانی ظواهر |
| ۴ | فلورایټ ډبره | دورېابا | دخځوبی دسیمی دفلورایټ تیری کانی ظواهر |
| ۵ | سرپینتین تیره | ګوشته | دماما خیلو دساحی سرپنتین |
| ٦ | نفرایت تیره | ګوشته | سپین جماعت، ځپری، شنیلی، مورګی، یارګی دساحاتو دنفرایټ تیره، |
| | | کامه | ماماخیلو، مرزاخیلو او ګرداب دساحاتو دنفرایټ کانی ظواهر |
| ٧ | کرومایټ تیره | ګوشته | سپین جماعت، ځپری، شنیلی، مورګی دساحاتو کرومایټ |
| | | کامه | ماماخیلو، مرزاخیلو، ګرداب کرومایټ |
| ٨ | چونی ډبره | سررود | درونټی ساحی دچونی تیره، |

د تولیدي/صنعتي فابریکو د کلنیو صادراتو ارزښت

د اقتصاد له نظره تولید د انسانانو له خوا د شیانو جوړول شامل دي، بلکې د نورو خدمتونو فعالیتونه هم شامل دي لکه جوړونه  ساتنه او ، پاکاری او داسی نور. تولید هر راز فعالیت او کار دی (انرژي) چې د طبیعت عناصر د بشریت مصرف سره نږدې کوي دننګرهار ولایت دګمرک ریاست دراپور په اساس په ١٣٩٦ کال کی دننګرهار ولایت دشوکاڼی او ماربل او صنعتی فابریکو په مجموعی ډول دصادراتو ارزښت  ٤٬١٩٩٬٠٩٬٨٨٧٧٨,٠٠ افغانی په ګوته شوی چې مختلفو هیوادونو ته صادر شوی دی. دننګرهار ولایت په مربوطاتو کی ٢٨٠ صنعتی او تولیدی فابریکی په مختلفو برخو کی فعالیتونه کوی چې یادی فابریکی او شرکتونه دننګرهار ولایت په مرکز جلال اباد ښار او اړونده ولسوالیو کی فعالیتونه کوی. دیادونی وړ ده چې یادی فابریکی په لاندی جدول کی ذکر شوی فعالیتونه ترسره کوی.

| ګڼه | دفعالیت ډول | ګڼه | دفعالیت ډول |
|---|---|---|---|
| ١ | چپس ، چناجور او نیمکو تولید | ٢٣ | ایسکریم او یخ تولید |
| ٢ | مربا، اچار تولید | ٢۴ | دچرمی چپلکو او بوټانو تولید |
| ٣ | بسکټ او کلیک او دبیکری اړونده خوراکی توکو تولید | ٢۵ | داوړو او وریجو  او خوراکی باب تولید |
| ۴ | دروپ تولید | ٢٦ | دچرګانو، هګیو او دچرګوړو تولید |
| ۵ | پاپړ تولید | ٢٧ | ددیګ بخارونو تولید |
| ٦ | دپی وی سی پایپ تولید | ٢٨ | داسوپنیزو کاری توکو تولید |
| ٧ | جوس تولید | ٢٩ | دکنجاړی او غوړیو تولید |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ | دمعدنی اوبو تولید | ۳۰ | دعطرو تولید |
| ۹ | دشامپو او دکالیو وینځلو دپوډرو تولید | ۳۱ | پرنیجیر (میزونو، الماریو او دفتری توکو ) تولید |
| ۱۰ | دلوښو د وینځلو دشامپو تولید | ۳۲ | دتجهیزی لرګینو توکو( دروازی، کړکۍ او تاخچو ) تولید |
| ۱۱ | دماربل پروسس کول | ۳۳ | داوسپنیزو تعمیراتی توکو( دروازه، ور او کړکیو تولید) |
| ۱۲ | دشوکاټو او مرمرو استخراج تولید | ۳۴ | دقالینو اوبدل |
| ۱۳ | حرفوی ذه کړی او لاسی صنایع | ۳۵ | دتارونو جوړول |
| ۱۴ | ګلدوزی او خیاطی | ۳۶ | دکارتن جوړول |
| ۱۵ | دخادرونو رختونو تولیدول | ۳۷ | دبکسونو جوړول |
| ۱۶ | برقی توربینونو او ساختمانی ماشینونو تولیدول | ۳۸ | دکولر او پکیو جوړول |
| ۱۷ | پروفیل تل او سیخ ګول تولید | ۳۹ | چاپ او ډیزاینول |
| ۱۸ | دبرق لاین تولید | ۴۰ | دوچو میوو پروسس کول |
| ۱۹ | پلاستیکی فرش تولید | ۴۱ | دشهدو تولید |
| ۲۰ | دایودین مالګی تولید | ۴۲ | دنیالکیو تولید |
| ۲۱ | دیونانی دواګانو تولید | ۴۳ | دنکریزو تولیدول |
| ۲۲ | دتیزابو تولید | | |

دبنسټونو دسکتور پراختیایی پنځه کلنه بودیجه او لګښت څرنګه چې د بنسټونو په سکتور کی یواځی داوبو او بریښنا ریاست پرمختیایی بودجه او لګښت لری او په دی سکتور کی نوری فرعی اداری پرمختیایی بودجه نلری. دیادونی وړ ده چې دبریښنا ریاست د ۱۳۹۵ او ۱۳۹٦ کال بودجه په کابل مرکز کی د توکو په خریدداری مصرف شوی.

دزیربنا سکتور فرعی ادارو (تولګټو چارو ریاست، مخابراتو ریاست، معادنونو ریاست، ترانسپورت ریاست، ښارجوړونی ریاست او داوبو او بریښنا ریاست) له جملی څخه یواځی داوبو او بریښنا ریاست پرمختیایی بودجه لری او پاتی پورته ذکر شوی نور اداری پرمختیایی کلنی بودجه نلری.

| دزیربنا او طبیعی سکتور پنځه کلنه پرا ختیایی بودجه او لګښت ( بریښنا ریاست) | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | دبودیجی کال | کلنی پرمختیایی بودجه | دبودجی لګښت |
| ۱ | ۱۳۹۲ | معلومات وجود نلری | معلومات وجود نلری |
| ۲ | ۱۳۹۳ | معلومات وجود نلری | معلومات وجود نلری |
| ۳ | ۱۳۹٤ | ۱۰۰٬۰۰۰٬۰۰۰,۰۰ | ۱۰۰٬۰۰۰٬۰۰۰,۰۰ |
| ۴ | ۱۳۹٥ | ۳۷٬۱٦۱٬۳٤۸,۰۰ | ۳۷٬۱٦۱٬۳٤۸,۰۰ |
| ۵ | ۱۳۹٦ | ۳٦٬٥۰٦٬۸٥۷,۰۰ | ۳٦٬٥۰٦٬۸٥۷,۰۰ |
| | جمله | ۱۷۳٬٦٦۸٬۲۰٥,۰۰ | ۱۷۳٬٦٦۸٬۲۰٥,۰۰ |

د زیربنا او طبیعي سرچینو د سکټورونو په برخه کې د نادولتي مرستندویه موسسو او پرمختیایي شریکانو مرسته

دبنسټونو په سکتور کی د سوداکری خونی سره مرستندویه موسسی د CHAMP او ADF په نوم کار کوی

داقتصاد او خصوصي سکټور پرمختیا

اقتصادی پیاوړتیا او د خصوصی سکټور غښتلی کول د دولت د لویو او مهمو اهدافو څخه دي خصوصی سکتور ته پاملرنه دهیواد ابادی او رغونی ته پاملرنه ده، دخصوصی سکتور په شتون کی یو ازاد سیال بازار رامنځته کیږی او خصوصی سکتوری اداری دباکیفیته خدماتو په عرضه کولو کی یو دبل څخه دوړاندی تګ په تکل کی وی چی په پایله کی په منطقه کی رغونه او سمسورتیا رامنځته کیږی. د خصوصی سکټور پرمختیا او اقتصادی وده به عامه خوښۍ او سوکالۍ کچه لوړیږی او د دیموکراتیک نظام د پایښت لامل ګرځي. د دې برخې د بشپړولو لپاره دا بهتره ده چې په ولایت کې د ولسوالیوپه پام کې نیولو او د خدمتونو وړاندې کولو ته د لاسرسي پر بنسټ باید ځانګړی پاملرنه وشی، خصوصی سکتور هیوادوالو ته دخدماتو دوړاندی کول، په تولید ،صنعت، تعلم او تربیه او دی ته ورته خدمتونو په وړاندی کولو کی هروګړی ته فرصت ورکوی ترڅو میدان ته راووځی.

ننګرهارولایت یو له حاصل خیزو او سبزی تولیدونکو ولایتونو څخه دی ځکه چی اکثره وګړی یی په کرکیله او بزګری باندی بوخت دی،ننګرهار کی دسیزیجاتو دتولید کچه دومره زیاته ده چی داړتیا مطابق نورو ولایتو ته انتقالیږی. هغه سبزی چی دننګرهار په ولایت کی تولیږی لکه رومیان، توربانجان، کرم، ګلپی، سابه، شلغم، شنه پیاز او کلچه پیاز، پټاټې، بینډۍ، ګازری، وره، نورسبزیجات او ترکاری، دیادونی وړ ده چی پورته ذکرشوی دننګرهار په ۲۲ ولسوالیو کی کرل کیږی، دیادونی وړ ده چی دسبزیجاتو کلنی تولیدی مقدار یی په زرګونو مترټنو ته رسیږی.

ننګرهارولایت په ۲۲ ولسوالیو کی کی لندی میوی په لویه پیمانه تولیدی چی دمیوو له جملی څخه شفتالو،زردالو، نارنج، ناک، امرود، مالته، ناک، توت، لیمو، بادام، غوزان چی دزیاتی پریمانی له وجی یی نرخ ډیر راټیټیږی او حتی نورو ولایتونو ته هم انتقالیږی ننګرهار ولایت چی داقلیم له اړخه ګرم موسم او هوا لری نو په ګرم اقلیم کی نباتات او سبزی جات ښه وده کوی چی له دی جملی څخه په موسمی ډول د ننګرهار په ۲۲ ولسوالیو کی کی غنم ، اوربشی، وریجی، جوار، ایړدن، نخود، لوبیا، دال، ماش او سویابین په لویه پیمانه حتی په ټنونو باندی تولیږی چی دتقاضا پربنیاد نورو ولایتونو ته هم صادریږی.

په ننګرهار کی د پریمانه ساختمانی او لوجستکی شرکتونه شتون، ۲۸۰ صنعتی او تولیدی فابریکی، تجارتی او ترانسپورتی خدماتو اړونده شرکتونه همدرانګه په ننګرهار کی ٦ خصوصی پوهنتونه، ۱۸۴ خصوصی ښوونځي دا هغه څه دی چی په ننګرهار کی دخصوصی سکتور پس منظر په ډاکه کوی

د بې وزلۍ وضعیت

دننګرهار ولایت په سطحه دبی وزلی دکچه ارقام شتون نلری او نه هم کومه سروی ترسره شوی خو دژوند دوضعیت دسروی په اساس او دنړیوال بانګ په ملاتړ دهیواد په سطحه دبی وزلی کچه ٥٤,٥ سلنه ښودل شوی

د کارې بوختیا او ځواک سلنه

په ننګرهار کی دژوند دوضعیت دسروی په اساس چی دننګرهار داحصاییی ریاست لخوا ترسره شوی په ډاګه کوی چی ټول ٧٧٦٥٨١ تنه دکارکولو توان لری چی ددی له جملی څخه ٣٩٧١٧٠ تنه نارینه او ٣٧٩٤١١ تنه ښځینه تشکیلوی، همدارنګه دسروی دراپور په اساس ٥١١٥۴ تنه بیکاره دی چی ٣٨۴٩٢ تنه نارینه او ١٣٦٧٨ تنه ښځینه تشکیلوی چی دکار ځواک سلنه / فیصدی یی ٤٩,٣ % اټکل شوی.

| دکاری ځواک سلنه | | | |
|---|---|---|---|
| دکار وړ خلک | | جمله بیکاره خلک | |
| ٧٧٦٥٨١ | | ٥١١٥۴ | |
| نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه |
| ٣٩٧١٧٠ | ٣٧٩٤١١ | ٣٨۴٩٢ | ١٣٦٧٨ |
| کاری ځواک سلنه | ٤٩,٣٠٪ | | |

دجنسیت په پام کی نیولو سره کاري فرصتونه او د وزګارتیا کچه

دننګرهار ولایت چی ګن نفوس لری د ژوند دوضعیت دسروی په اساس چی دنړیوال بانګ په ملاتړ په ١٣٩٥ ترسره شوی چی دننګرهار دکاری ځواک له جملی څخه مجموعاً ٥١١٧۴ تنه بیکاره ده چی له دی جملی څخه ٣٨۴٩٢ تنه نارینه او ١٣٦٧٨ ښځینه تشکیلوی.دسروی په اساس ٣٩٧١٧٠ نارینه او ٣٧٩٤١١ ښځینه دکاری ځواک دګډون کچه اټکل شوی همدارنګه دننګرهار دولسونو دوزګارتیا دنوی سروی پر اساس چې د افغانستان دمرکزی اداري لخوا په ٢٠١٧ کال کی ترسره شوی په لاندي توګه یی د کلنۍ سلنې پر اساس یی درجه بندی شوی ده

| شاخص | ٢٠١١-٢٠١٢ | ٢٠١٣-٢٠١۴ | ٢٠١٦-٢٠١٧ |
|---|---|---|---|
| مصروفیت | ٥١,٨ | ٤٩,٧ | ٥٠,٩ |
| بی کاري | ٣,٤ | ١٥,٠ | ١٢,٩ |

په لیک لوست سنبال ښځینه او نارینه کاري ځواک په ننګرهار کی د ژوند وضعیت دسروی په اساس چې په ١٣٩٥ کال کی ترسره شوی ښیی چی ۴١٪ وګړی نفوس لوستی او ٥٩ ٪ نقوس یی نالوستی دی چې دلوستو له جملې څخه ٥٨.٨ ٪ لوستی نارینه او ٢٢.٥ لوستی ښځینه ښودل شوی همدارنګه په نالوستو کی ۴١.٢ ٪ نارینه او ٧٧.٥٪ ښځینه ښودل شوی. لیکن د داحصاییی دمرکزي اداري لخوا سروی چی په ٢٠١٧ کال کی ترسره شوی دننګرهار په لیک لوست سنبال ښځینه او نارینه کاری ځوااک یی په لاندی ډول طبقه بندی کړی.

| شاخص | ۲۰۰۷-۲۰۰۸ | ۲۰۱۱-۲۰۱۲ | ۲۰۱۳-۲۰۱۴ | ۲۰۱۶-۲۰۱۷ |
|---|---|---|---|---|
| دځوانانو سواد کچه ( ۱۵-۲۴ کال) | ۳۳,۸ | ٤۳,٥ | ٥۰,۷ | ٥۱,۲ |

د اقتصاد(تولید او سوداګرۍ) په سکټورکې د بوختیا

دننګرهار ولایت داحصایې ریاست دسروی په اساس ۴۴٪ وګړی په کرهنه ۱۸٪ په صنعت او باقی ۳۸٪ وګړی په خدماتی او نور دندو بوخت دی . او ددی ارقامو ترڅنګ په ننګرهار کی ښځینه په شکل د اشکالو په کرهڼه کی او همدرانګه په خیاطي، دست دوزی، سلمه دوزی، څرمه دوزی چې سلنه یې مشخصه نده بوختی دی

په خصوصي سکټور کی پانګونه




ننګرهار چې د سواداګرۍ او هرډول فعالیتونو لپاره مناسب اقلیم لری او ددی ترڅنګ یو سرحدی او ترانزیتي ولایت دی نو دهیواد له مختلفو ولایتونو څخه ډیری خلک د سوداګرۍ او تجارت لپاره په همدی ولایت کی میشت شوی دی چې یادو وګړو په مخلفو برخو کی پانګونه کړی او دننګرهار ولایت سمیه ایبز مارکیت یی ګرم ساتلی دپانګونی د کچي په اړه دننګرار د سوداګرۍ دخونی راپور او معلوماتو پر اساس دخصوصی سکتور په ډګرکی دپانګونی کچه ٥۱۹٬٤۲٦٬۰۰۰,۰۰ ښودل ګوته کړی

د تولیداتو او خدمتونو ارزښت

دننګرهار ولایت په مربوطاتو کی ۲۸۰ صنعتی او تولیدی فابریکی په مختلفو برخو کی فعالیتونه کوی چې یادی فابریکی او شرکتونه دننګرهار ولایت په مرکز جلال اباد ښار او اړونده ولسوالیو کی فعالیتونه کوی اد هغه فابریکی دی چې تولیدات یی دننګرهار دښار، ولسوالیو ، ګاونډیو ولایتونو سره سره نورو ولایتونو ته هم خپل تولیدات لیږدوی او ددی

ترخنک په ننگرهار کی د شوکانې، ماربل فابریکې چې تولیدات یې د هیواد دولایتونو په شمول دهیواد څخه بهر هم لیږدول کیږی.

| ګڼه | دتولیداتو ارزښت- افغانی | دخدماتو ارزښت افغانی | ملاحضات |
|---|---|---|---|
| ۱ | ٤٬۱۹۹٬۰۹٬۸۸۷۷۸,۰۰ | ٥۱۹٬٤۲٦٬۰۰۰,۰۰ | |

د صادراتو او وارداتو ارزښت

دننگرهار په سطحه دتیرو پنځه کلونو دصادراتو ارزښت په لاندی جدول کی ذکر شوی، داچې دننگرهار دګمرک له لارې دټول هیواد لپاره توکی را واردیږی نو تنها د ننګرهار لپار دوارداتو دارزښت تفکیک ستونزمن وه چې پیداکړی مو وایی.

د هغو عوایدو کچه چې په مالیاتي/غیرمالیاتي عوایدو کې شامل دي؛ د ولایت ټولټال عواید د سکټور په تفکیک سره

| دننگرهار ولایت صادراتو  ارزښت | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| کال | ۱۳۹۲ | ۱۳۹۲ | ۱۳۹۳ | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ |
| دصادراتو ارزښت | ۲٬۱۹٤٬٥٥٥٬٦٥۰ .۰۰ | ۱٬۰۷٥٬٦۸٦٬۹۹۰ .۰۰ | ۹۱۸٬٤۲۱٬۹۸۰. ۰۰ | ۸۰۹٬۸۹۸٬٦۰۰. ۰۰ | ٥٤۲٬۳٥۳٬۸٤۰. ۰۰ |

داچې ګمرک او  مستوفیت مالي ادارات ده او دنده ئې د مالیاتو راټولول او د عوایدو د سطحې لوړول او ټولو ملکی او نظامي اداراتو معاشات مصارفو اجرا چاري پر خپل وخت او زمان سره پر مخ وړی نو د دي چاري لپاره ئی کار اهل کار ته د سپارلو لپاره رغنده ګامونه پورته کړي چې د دولت عوایدو کی د تیر کال په پرتله بی ساري لوړوالي راغلی دي چې په لاندی جدول کی یی دعواید د راټولیدنې طبقه بندی شوی ده

| دننگرهار د ګمرک او مستوفیت عواید | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کال | اړونده اداره | نیټه | بودیجه | ملاحظات |
| ۱۳۹٥ | د ګمرک عواید | د ۱۳۹۴ کال د جدی میاشتی د لمړی نیټی څخه  ۱۳۹٥ قوس میاشتی  ۳۰ نیټی پوری | ۱۲۳۳٤۹۸۷٥۰۳,۰۰ | |
| | د مستوفیت عواید | د ۱۳۹۴ کال د جدی میاشتی د لمړی نیټی څخه  ۱۳۹٥ قوس میاشتی  ۳۰ نیټی پوری | ۱۸٤٤۲۸۲۳۱٤,۳۲ | |
| | | مجموعه | ۱٤۱۷۹۲٦۹۸۱۷,۳۲ | |
| ۱۳۹٦ | د ګمرک عواید | د ۱۳۹٥ کال د جدی میاشتی د لمړی نیټی څخه  ۱۳۹٦ د قوس میاشتی  ۳۰ نیټی پوری | ۱۳۹۲۰۳۷۰٥۷۹,۰۰ | |
| | د مستوفیت عواید | د ۱۳۹٥ کال د جدی میاشتی د لمړی نیټی څخه  ۱۳۹٦ د قوس میاشتی  ۳۰ نیټی پوری | ۲۳۱٥۰٤۲۹۲۱,۰۰ | |
| | | مجموعه | ۱٦۲۳٥٤۱۳٥۰۰,۰۸ | |
| ۱۳۹۷ | د ګمرک عواید | د ۱۳۹٦ کال د جدی میاشتی د لمړی نیټی څخه  ۱۳۹۷ د قوس میاشتی  ۳۰ نیټی پوری | ۱٦٤٤٥٤۸۱٤۹٤,۰۰ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د مستوفیت عواید | د ۱۳۹٦ کال د جدی میاشتی د لمړی نیټې څخه ۱۳۹۷ د قوس میاشتی ۳۰ نیټې پوری | ۲٤۳۷۰۲۸۸۱۱,۷۹ | |
| | مجموعه | | ۱۸۸۸۲٥۱۰۳۰٥,۷۹ | |

د ښځو او نرانو د لاسي صنایعو د تولیداتو ارزښت

دننګرهار ولایت ښځینو ته د کار زده کړې او پیداکولو په برخه کې ددولت ترڅنګ او ددولت په همغږی دنړیوالو موسساتو لخوا ډیرې اسانتیاوی برابري شوی چې ډیری ښځینوو ته د خیاطی، دست دوزی، سلمه دوزی، چرمه دوزی او د ۹۷۴۰ ښځینوو په تعداد په مختلفو موسساتو کی دښځو چارو ریاست په مرسته دکار موقع برابره شوی ده

دیادونی وړ ده چې ښځینوو ته دکار موقع برابرول په لاندی برخو کی ستر رول لوبوی:

۱- د فامیل داقتصادی پیاوړتیا

۲- دخپل فامیل لپاره حلال رزق او نفقه پیداکول

۳- په عمومی بازار کی د ښځو د لاسي صنایعو بازار مارکیټ

۴- د ښځو لپاره ځانګړی بازار چمتو کول او په ټولنه کی لاسی صنایعو ته دښځو تشویقول

۵- په ټولنه کی دښځو ګډون او د غربت او بدبختی له منځه وړ

د بانکونو شمیر د دولتي او خصوصي بانکونو په تفکیک سره

دننګرهار په ولایت کی ټول ۱۲ بانکونه فعالیت لری چې یو دولتی او ۱۱ خصوصی بانکونه دی

| ګڼه | دبانک نوم | نوعیت | دڅانګو شمیره |
|---|---|---|---|
| **ننګرهار ولایت کی ددولتی اوخصوصی بانکونو فهرست** | | | |
| ۱ | دافغانستان بانک | مرکزی بانک - دولتی | ۱+۱ شهری غرفه او طورخم څانګه |
| ۲ | نوی کابل بانک | خصوصی | ۲ |
| ۳ | افغان ملی بانک | خصوصی | ۱ |
| ۴ | افغان یونایټیډ بانک | خصوصی | ۱ |
| ۵ | غضنفر بانک | خصوصی | ۱ |
| ٦ | باختر بانک | خصوصی | ۱ |
| ۷ | افغان نړیوال بانک | خصوصی | ۱ |
| ۸ | عزیزی بانک | خصوصی | ۲ |
| ۹ | مایکرو فاینانس بانک | خصوصی | ۱ |
| ۱۰ | پاکستان نیشنل بانک | خصوصی | ۱ |
| ۱۱ | پښتنی بانک | خصوصی | ۱ |
| ۱۲ | میوند بانک | خصوصی | ۱ |

| داقتصاد تولید او سوداگری په برخه کی دپانگونی کچه | | | |
|---|---|---|---|
| گڼه | دفعالیت ډول | د تشبث نوع | پانگه |
| ۱ | تجارتی | شرکت محدود المسؤلیت | ۲۰۸٬۰۰۰٬۰۰۰,۰۰ |
| ۲ | خدماتی | شرکت محدود المسؤلیت | ۸۱٬٦۳٦٬۰۰۰,۰۰ |
| ۳ | ساختمانی | شرکت محدود المسؤلیت | ۱٤٦٬٦۲۰٬۰۰۰,۰۰ |
| ٤ | تجارتی | مالکیت انفرادی | ۹٬۵۰۰٬۰۰۰,۰۰ |
| ۵ | ساختمانی | مالکیت انفرادی | ۲۹٬۰۷۰٬۰۰۰,۰۰ |
| ٦ | نور خدماتی فعالیتونه | مالکیت انفرادی | ۳٦٬۸۰۰٬۰۰۰,۰۰ |
| ۷ | | | ۷٬۸۰۰٬۰۰۰,۰۰ |
| | مجموعه پانگونه | | ۵۱۹٬٤۲٦٬۰۰۰,۰۰ |

سوداگریز بندرونه او گمرکونه

گمرکونه په ولایتونو کی د هیواد ته دراوړنکو توکو دگمرک اومحصول په موخه تاسیس کیږی، دا چې ننگرهار ولایت هم دهیواد له مهمو ترانزیټی او سرحدی ولایتونو څخه شمیرل کیږی ترڅو دبهرنیو هیوادونو څخه راوړنکی توکی هیواد ته درا ننوتو په حالت کی گمرک شی نو په ننگرهار تورخم کی هم دهیواد په کچه یو گمرک شتون لری چې دهیواد په کچه ډیری توکی دهمدی گمرک له لاری محصول کیږی.

په تیرو پینځو کلونو کې، د خصوصي سکتور ټولټال عواید

په خصوصی سکتور کی پانگوني کچه دا چې دخصوصی سکتور عواید دمستوفیت له لاری راټولیږی نو دمستوفیت دراپور په اساس ۱۳۹٦ کال جدی میاشت څخه تر ۱۳۹۷ سرطان پوری عواید ۹٬۲۷۲٬۸۵۰٬۰۸۲,۰۰ چې په دی مبلغ کی دمستوفیت او گمرک عواید دواړه شامل دی

د کوچیانو حالت

د ننگرهار په ولایت کې کوچیان د اوړي او ژمي په موسم کې په ټولو ۲۲ ولسوالیو کې او سیږي په ځینو سیمو کې یواځې ژمی تیروي او په ځینو سیمو کې اوړی او ژمی اوسیږي چې په مجموعي ډول زمونږ د راټولو شوو معلوماتو له مخې ۵۲۰۰۰ ( دوه پنځوس زره) شاوخوا کې کوچي کورنی په ننگرهار ولایت کې ژوند کوي چې د یادې شمیرې ٦۰٪ سلنه کوچیان د اوړي په موسم سړو سیمو او ایلبندونو ته ځي لکه ( کابل ، لوگر ، کاپیسا ، پروان ، غوربند، شیبر ، میدان ښار ، غزني ، هزاره جات ،) او ۴۰٪ یې اوړی او ژمی همدلته اوسیږي ځکه چې مالونه نه لري او دلته په ننگرهار کې ورځ مزدوري او یاهم پوله پټي کې بزگري کوي ، او کمه برخه یې چې اقتصادي وضیعت یې ښه ده سوداگري کوي او یاهم بار وړونکی عراده جات لری .

په ننگرهار ولایت کې د کوچیانو وضعیت د پخوا په پرتله ډیر خراب دی ځکه چې د تگ راتگ په مهال لارې گودرې او پړاونه د امنیتي ستونزو او یاهم داچې ولسي آبادي زیاته شوي نو دوی په ډیره سختی له یوې سیمي بلې سیمي ته لیږدي او یاهم مالونه په موټرو کې انتقالوي ، او بله داچې هغه پراخي دشتي ، غرونه ، مالچرونه ، ټاپوگان او یاهم د کابل سیند دواړه غاړې چې کوچیانو به پکې مالونه څرول او پخپله به هم پکې اوسیدل اوس پکی شهرکونه او آبادی جوړې شوی دی او غرونه د نشته بارانونو او یاهم نه مسؤنیت له امله چې همیشه د جنگونو احتمال وي کو چیان نه شي کولای چې په خلاص مټ مالونه پکې و څروي نو له همدې امله یې مالونه د گیاه او څرولو له ستونزو سره مخ دي. او

داخو ولسوالی چې جنګونو ځپلې کوچیان یې هم لکه د میشتو ولسونو غوندې په نورو سیمو کې اوسیږي چې ددوي په ټولنیز ژوند یې بدې اغیزې کړې او همیشه د مالچر او یاهم اوبه خور په سر جنجالونه رامنځته کوي ځکه چې سیمه تنګه او کمه وي او مالداري ګڼه وي .

کوچیان چې د افغانستان په تاریخ د هیواد ساتنې او هیواد پالنې په برخه کې بی ساري سربښندنې کړې او د افغاني اصلي کلتور ممثلین دي ، او همیشه یې له خپلو حکومتونو ملاتړ کړی ، او ددوي ستراتیژیک ژوند ته په کتلو سره هرچیرته چې کوچیان اوسیږي د هغې سیمي په مسؤنیت ټولنیز او اقتصادي حالت مخامخ تآثیر لري. ځکه چې کوچیان دمني شنه فصلونه اخلي او خپل مالونه پرې ساتي .

دکوچنیانو ستونزی ( دصحت، ژوند، پوهنی، امنیت،) په برخه کی

دصحت په برخه کی مونږ په ننګرهار ولایت کې په ټولو ولسوالیو کې دمیشتو کوچیانو لپاره یواځې دوه ګرځنده صحي ټیمونه او ۱۵ صحي پوستي د AADA مؤسسې له خوا او ٦٠ صحي پوستي د هیلت نیټ مؤسسې له لوري لرو چې یواځې دوه سیار ټیمونه په بهسود ، کامه ، ښیوه ، دره نور ، ګوشته ، رودات ، بټې کوټ ، مهمنددره ، لعل پوره ، غني خیل ، سرخرود ، چپرهار ولسوالیو او مرکز جلال آباد کې فعالیت کوي او د صحي پوستو رضاکاران یواځې روزل شوي ولې ادویه په منظم شکل ټولو سیموته نه ورکول کېږي چې دا خدمات د ننګرهار ولایت کوچیانوته ددوي د تعداد او نفوسو په پرتله دنشت برابر دي.

د ژوند په برخه کی د هیواد په کچه د فقر ۵۴ ٪ کچه مخامخ د کوچیانو په ژوندانه تاثیر لري ، او بله داچې کوچیانو د وچکالی ، مهاجرتونو ، نشته مالچرونو ، هزاره جات ته د نه تګ او نه پریښودلو او نورو ټولنیزو او اقتصادي لاملونو له امله ډیره فیصدي کوچیان د ژوند په ډیره ټیټه کچه کې ژوند لري ، سرپناه او کورونه نه لري ، د بیکاری کچه پکې ډیره لوړه ده ، له ٦٠ ٪ دیر کوچیان د فقر له کچې په ټیټه پیمانه کې قرار لري ، دولتي ادارو ، خصوصي سکتور او مؤسساتو کې ورته د کارزمینه نه برابرېږي، حرفوي زده کړو او کسبونو زده کولو زمینه نه ورته برابرېږي داخلي بیځایه شوو ، یتیمانو ، کونډو ، معلولینو او معذورو کوچیانو ته حقوق نه رسیږي.

د پوهنی په برخه کی د ننګرهار په ولایت کې کوچیان یوه لیلیه لیسه ، یوه نهاریه لیسه ، دوه متوسطي ، دوه مدرسي او ۱۳ لومړني ښوونځي لري او دسویډن د کمیټې له لوري ۸ کلیوالي ټولګې لري چې اوړی په میدان ښار او ژمی د چپرهار ولسوالی دسپین جومات په ساحه عمرخیل قوم مربوطاتو کې یې تدریسي بهیر مخته روان ده په پورته ذکرشوو ښوونېزو ادارو کې یواځې د عبدالقادر کوچي لیسي مدیریت د کوچیانو ریاست او معارف ریاست په ګډ تفاهم مخته ځي ، تدریسي برخه دمعارف مسؤلیت ده او دلیلي برخه او معاشات د کوچیانو ریاست مسؤلیت ده . د کوچیانو تیت اوپرک ژوند ته په کتلو سره بسنه او کفایت نه کوي اړتیا لیدل کېږي چې کلیوالي ټولګي ، الحاقیي او یاهم د تعلیمي مؤسسو له لوري ورته صنفونه جوړشي ترڅوټول تعلیم ته لاسرسی ولري او مساویانه حقوق ترلاسه کړي او دپوهنې په ګاڼه سمبال شي.

امنیت په برخه کی لکه څنګه چې امنیت یوه ملي مسئله ده او ناامني دټول ولس لپاره یوه غټه ستونزه ده ولي دکوچیانو لپاره ترټولو سخته ستونزه ده ځکه چې کوچیان دخپلو مالونو دپوولو او مرولو په موخه په لروپرتوسیمو ، غرونو ، دشتو و رشوګانو ، مالچرونو او دغرونوپه لمنوکې اوسیږي. دکوچي سرخیلانو دمعلوماتو له مخې ځای په ځای کوچیان د ځمکنیو ماینونو ، جنګونو ، بمباریو او ړندو مرمیو ښکار کېږي او هیڅ ډول مسؤنیت نه لري ، او په مختلفو حالتونو کې

زورېږي او دباج په شکل مالونه ترې اخيستل کېږي. او اوسنيو شرايطو ته په کتو سره دوی هيڅ داسې دفاعي اسلحه له ځان سره نشي ګرځولای چې په غرو رغونو او ياهم لارو کې پرې د غل غدوی او ياهم د غره د ښېرونکو ځناورو لکه پړانګ او ليونه پرې ځان او خپل مالونه وژغوري. کوچيان کوم اسانتياوو ته لاس رسی لري او کومو ته يې نلري. کوچيان ټرانسپورت ته په ځينو ځايونو کې لاسرسی لري او په ځينو ځايونو کې نه هغه کوچيان چې لويو لارو سر ه نږدې اوسيږي په اسانه تګ راتګ کوي او هغه کوچيان چې له لويو لار لرې اوسېږي او کليوالي ټرانسپورټ هم ورته محدود ده اوښان ،مرکب او ياهم نور بارورونکي هم په هغه پيمانه چې پخوا يې لرل اوس نه لري نو په ډېره سختی خپل ژوند مخته بيايي. مخابراتي اسانتياوو ته لکه د عامو وګړو په شان لاسرسی لري کمه فيصده کوچيان په داسې سيمو کې اوسېږي چې مخابراتي اسانتياوو ته لاس رسی نه لري ،

بازارونو ته ټول کوچيان لاس رسی نه لري

د کوچيانو محصولات

لبنيات ، شيدي ، مستي ، کوچ ، پنير ، تروي ، وړی ، غوښې له خپلو اهلي مالونو څخه توليدوی چې همدا توليدات او غوښې دخرڅلاو لپاره مارکيټ ته په خپل وخت نه رسيږي.

د رسنيو فعاليتونه

رسنۍ په هيواد کی د ولسونو او دولت ترمينځ ديو پُل حيثيت لری دولس غږ تر دولت او حکومت او دحکومت پيغام تر ولسه رسوی په تيرو دوه لسيزو کی رسنيو دولسواکی او ډيموکراسی په پلی کولو کی رغنده رول لوبولی، ديادونی وړ ده چی دننگرهار په مربوطاتو کی ۲۸ غږيزی او انځوريزی رسنۍ شتون لری چی ټولی رسنی د FM په مختلفو فريکوينسيو سره خپرونی کوی چی په لاندی جدول کی درسنيو دمعلومات به اړه يادونه شوی. ديادونی وړ ده چی دمګړی په ننګرهار کی دملی راديو تلويزيون په ګډون ١٨ راډيوګانی ، دوه تلويزيونونه، او دری کيبلی شبکی دخپرونی په برخه کی فعاليت کوی.

| په ننګرهار کی دفعالو راډيو ګانو، تلويزيونونو او کيبلی شبکو لست | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | درسنۍ نوم | موقعيت | ګڼه | درسنۍ نوم | موقعيت |
| ١ | حقيقت غږ FM | ننګرهار غنی خيل | ١٥ | تعليم الاسلام | ننګرهار جلال اباد |
| ٢ | مرام FM | ننګرهار جلال اباد | ١٦ | مزل FM | ننګرهار جلال اباد |
| ٣ | صفا FM | ننګرهار جلال اباد | ١٧ | شرق FM | ننګرهار جلال اباد |
| ٤ | ننګرهار کليد FM | ننګرهار جلال اباد | ١٨ | زن FM | ننګرهار جلال اباد |
| ٥ | اصلاح غږ FM | ننګرهار جلال اباد | ١٩ | مينه راډيو FM | ننګرهار جلال اباد |
| ٦ | شرق FM | ننګرهار جلال اباد | ٢٠ | ارزښت راديو | ننګرهار جلال اباد |
| ٧ | نرګس FM | ننګرهار جلال اباد | ٢١ | انعکاس تلويزيون | ننګرهار جلال اباد |
| ٨ | سپين غر FM | ننګرهار جلال اباد | ٢٢ | هميشه بهار تلويزيون | ننګرهار جلال اباد |
| ٩ | منار | ننګرهار جلال اباد | ٢٣ | افغان کيبل | ننګرهار جلال اباد |
| ١٠ | هميشه بهار FM | ننګرهار جلال اباد | ٢٤ | شايق کيبل | ننګرهار جلال اباد |
| ١١ | انعکاس FM | ننګرهار جلال اباد | ٢٥ | اسيا کيبل | ننګرهار جلال اباد |
| ١٢ | نن راډيو | ننګرهار جلال اباد | ٢٦ | | |

فرهنگ او ځوانان

په ننگرهار کی خلک اکثره پښتانه دی او دپښتو راجونه په دی سیمه حاکم دی، په ننگرهار کی شینواری،خوګیاڼی،مومند،اپریدی ، جبارخیل،اسحاق زی،پشه یی،سادات،عرب،میاګان،اخندزادګان،صافی ، زاخیل او نور قومونه اوسیږی، خو ځینی لرې پرتی سیمی او قومونه بیا خپل رواجونه لري،پښتونولي دپښتنو دخویونو، عاداتو او رواجونو څخه یوه مجموعه ده چی پښتانه زیات اهمیت ورکوي.

پښتونولي نه يواځي په پښتنو کی بلکی په ټوله نړۍ کی دپښتنو دسپیڅلو رواجونو په نامه شهرت لری په ننگرهار کی لاندي راوجونه اوکلتورونه دفرهنگي ارزښتونو په توګه شتون لری.

دبیلګی په توګه

کوژده، خوږه کاسه ( شیریني خوري)، دواده شپه، واده، مړی، بدل، بد، په کم عمرۍ کې ودونه، ولور، میلمه پالنه، کورنۍ ساتل، ننواتې، جرګه، ننګ او غیرت، شرم او حیا، ناموس، ژبه، دودیزی میلی، شعر او شاعري، راشه درشه

ځوانان د یوه فعاله ځواک په صفت په ټولنه کی د سالمو تغیراتو په راوستلو، د ښاریانو د حق لپاره د غږ پورته کولو، د ټولنیز عدالت او د قانون د حاکمیت په غښتلي کولو کی ستر رول لری.

ځوانان په ټولنه کی دملاتیر حیثیت لری چی په هرډګر کی دهر مثبت تحول ملا ورتړلی او دهر منفی تغیر مخی ته سپر ګرځیدلي او دټولني هرقشر کی دځوانانو ستر رول دستایلو دی. دننګرهار په سطحه ځوانانو هروخت ددولت او نظام ملاورتړلی او دهر سکتور او صنف تشکیل یی ورپوره کړ. ځوانان دیو پاک او سپځلی هدف په درلودلو او د یو روښانه فکر په رڼا کی پرته له قومی، ژبنی، او سیمه ییزو توپیرونو عمل کوی چی په همدغی کچی د وګړو باور د ځوانانو په کړنو زیاتیږی او د خوښي وړ بدلونونه د ټولنی په ډول ډول اړخونو کی راځی. د نړی په ټولو هیوادونو کی دا یوه په تجربی سره ثابته شوی خبری ده چی ځوانان د ټولنی د بدلون له یو دودیز وضیعت نه یو مدرن او مدنی اړخ او موخو ته د رسیدو لپاره اړینه ده چی زیات زیار وباسی او ډیره قربانۍ ورکړی تر څو لاسته یي راوړی. دلته په افغانستان کی ځوانان له ډیرو له ډیرو ننګونو سره مخ دی، دولت له ټولو شته ناخوالو او ستونزو سره په دی هڅه کی دی چی د ځوانانو رول د ټولنی په هری خوا کی لا زیات کړی. دی ته یی د ابتدایی او عالی زده کړو لاره هواره کړی او یو شمیر نورو ځوانانو ته یی په ځینو دولتی او غیر دولتی بنسټونو کی په کلیدی پوستونو کی د کار لاره هواره کړی. مخدره توکی، د انسانانو د قاچاق ډلی، د دولت مخالفی ډلی، جنسی زورونه او خطرناکه سفرونه ټولی هغی برخی دی چی ځوانان یی حساس کړی او د دوی د پرمختګ لار یی نیولی.

بشري او مدني حقونه

دافغانستان دبشری حقوقو خپلواک کمیسون لاندی دندی او مسؤلیتونه لری چی دتوان او ځواک په مطابقت سره د انسانی حقوقو دورکړی او ساتنی په موخه یی ورته تر ډیره بریده هلی ځلی کړی دی

- بشر حقونو پر وضعیت څارنه
- د بشر حقونو په برخه کې د اساسي قانون، نورو قوانینو، مقرراتو، لایحو او تعهداتو پر تطبیق څارنه

- په هېواد کې د اداري سیستم، عدلي او قضایي ارګانونو، بنسټونو، انتفاعي او غیر انتفاعي ملي او نړیوالو موسسو پر هغو کړنو او اجراآتو څارنه چې د بشر په حقونو اغیزه ولري.
- د خدمتونو او تأمیناتو د تأمیناتو د عادلانه وېش او دغو خدمتونو ته د لاس رسي په هکله د دولتي چارواکو او مراجعو او غیر دولتي مراجعو پر کړنو څارنه
- پر دې وضعیت څارنه چې آیا وګړي خپلو بشري حقونو او آزادیو ته لاس رسی لري.
- د قانون له حکمونو سره سم، د آزادۍ د سلب ځایونو څخه لیدنه، د قانون پر تطبیق څارنه او له بندیانو سره د کېدونکي چلند څرنګوالی ارزول
- د تخلفاتو ارزول او د بشر حقونو د نقض په هکله د اسنادو، مدارکو، شواهدو او معلوماتو راټولول
- اړوندو ادارو ته بشر حقونو د نقض او تخلفاتو د مخنیوي په موخه د ترسره شوي څېړنو پایلې وړاندې کول او په دې برخه کې اجراآتو تعقیبول
- د بشري حقونو په هکله د پوهاوي او زده کړو د ملي پروګرام طرح او پلي کول
- جنایتونو، جرمونو او د بشر حقونو د نقض مواردو ته د رسیدګۍ له بهیره د ملاتړ په موخه د پروګرامونو طرح او پلي کول چې د انتقالي عدالت پروسه پکې شاملېږي.
- د بشر حقونو د وضعیت د ښه والي، پرمختیا او ملاړ په موخه ملي شورا او حکومت ته د قوانینو او مقرراتو د طرح، تصویب، تعدیل او یا ملغی کولو لپاره د اندونو او سلامشورو ورکول
- ملي شورا او حکومت ته د بشر حقونو پر نړیوالو تړونونو پورې د افغانستان د لاسلیک، تصویب یا الحاق په اړه لازمې سلامشورې ورکول
- حکومت ته د دې په اړه مشوره ورکول چې افغانستان څه ډول کولای شي د بشر حقونو د نړیوالو تړونونو پر وړاندې تعهدات په ښه ډول ترسره کړي.
- د بشر حقونو د وضعیت په اړه د عمومي اعلامیو او رسمي بیان خپرول
- دهیواد ولسمشر ته دکال په پای کی کلنی راپور ورکول.

مذهبی او دیني چارې

د ننگرهار په سطحه د ارشاد حج اواوقافو ریاست سره تقریباً ۵۵۰۰ جامع او غیر جامع مساجد ثبت او راجسټر شوی چی لدی جملی څخه ۱۵۱ مساجد دولت سره رسمی او متباقی غیر رسمی دی، دارشاد حج اواواقافو ریاست سره ٦٠٠ په تعداد مدارس ،حلقات او دارلحفاظونه ثبت او راجسټر دی چی لدی جملی ۲۸ مدارس جواز لری.

ملا امامانو او خطیباتو ته لاندی ذکر شوی خطبی توزیع شوید.

۱-امنیت د اسلام له نظره

۲- سوله د اسلام له نظره

۳- د واکسینو تطبیق

۴- په ماشومانو باندی د شاقه کارونو د ترسره کولو مخنیوی

۵- د قاچاق په شکل د انسانانو انتقال بهرنی هیوادونو ته د مخنیوی په هکله

٦- په دولت باندی د عامه خلکو اعتماد کچه لوړول

۷- د ملی ځواکونو ملاتړ

۸- د ښځو حقوق د اسلام له نظره

۱۰- د مواد مخدر مخنیوی او اضرار

۱۱- د مذهبی اختلافاتو د کچی ټیټوالی لپاره هلی ځلی

